ننگرهار انجنیری پوهنځی

د اوسپنيز کانکرېټي عناصرو د لومړي صنفي کار مېتوديکي لارښود



سي ډي سره

پوهندوی ډیپلوم انجنیر عباد الرحمن مومند

خرڅول منع دي

۱۳۹۴

د اوسپنيز کانکرېټي عناصرو د لومړي صنفي کار مېتوديکي لارښود
Reinforced Concrete first Class Work Methodic Guidance
پوهندوی ډیپلوم انجنیر عباد الرحمن مومند
۱۳۹۴

Nangarhar Engineering Faculty

Afghanic

Prof Eng Ibad-ur-RahmanMomand

Reinforced Concrete first Class Work Methodic Guidance

Funded by
Kinderhilfe-Afghanistan

With CD

ISBN 978-9936-620-07-0
9 789936 620070

Not For Sale

2015

د اوسپنيز کانکرېټي عناصرو د لومړي
صنفي کار مېتودیکي لارښود

پوهندوی ديپلوم انجنير عباد الرحمن مومند

Afghanic



Pashto PDF
2015

Nangarhar Engineering Faculty
ننگرهار انجنیری پوهنځی

Funded by
Kinderhilfe-Afghanistan

Reinforced Concrete first Class
Work Methodic Guidance

Prof Eng Ibad-ur-RahmanMomand

Download: www.ecampus-afghanistan.org

بسم الله الرحمن الرحیم

د اوسپنیز کانکرېټي عناصرو د لومړی صنفي کار مېتودیکي لارښود

لومړی چاپ

پوهندوی دیپلوم انجنیر عباد الرحمن مومند

دغه کتاب په پی دی اف فورمت کی په مله سی دی کی هم لوستلی شی:

د کتاب نوم	د اوسپنیز کانکرېټي عناصرو د لومړي صنفي کار مېتود یکي لاربښود
لیکوال	پوهندوی دیپلوم انجنیر عباد الرحمن مومند
خپرندوی	ننګرهار انجنیری پوهنځی
ویب پاڼه	www.nu.edu.af
چاپ شمېر	۱۰۰۰
د چاپ کال	۱۳۹۴، لومړی چاپ
ډاونلوډ	www.ecampus-afghanistan.org
د چاپ ځای	سهر مطبعه، کابل، افغانستان

د اکتاب د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمیټې په جرمني کې د Eroes کورنۍ یوې خیریه ټولنې لخوا تمویل شوی دی.
اداري او تخنیکي چارې یې په آلمان کې د افغانیک موسسې لخوا ترسره شوې دي.
د کتاب د محتوا او لیکنې مسؤلیت د کتاب په لیکوال او اړونده پوهنځی پورې اړه لري. مرسته کوونکي او تطبیق کوونکي ټولنې په دې اړه مسؤلیت نه لري.

د تدریسي کتابونو د چاپولو لپاره له موږ سره اړیکه ونیسئ:
ډاکتر یحیی وردک دلوړو زده کړو وزارت کابل
تیلیفون 0756014640
ایمیل textbooks@afghanic.org

د چاپ ټول حقوق له مؤلف سره خوندي دي

ای اس بي ان: ISBN: 978 9936 6200 70

د لوړو زده کړو وزارت پیغام

د بشر د تاریخ په مختلفو دورو کې کتاب د علم او پوهې په لاسته راوړلو، ساتلو او خپرولو کې ډیر مهم رول لوبولی دی. درسي کتاب د نصاب اساسي برخه جوړوي چې د زده کړې د کیفیت په لوړولو کې مهم ارزښت لري. له همدې امله د نړیوالو پیژندل شویو معیارونو، د وخت د غوښتنو او د ټولنې د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره باید نوي درسي مواد او کتابونه د محصلینو لپاره برابر او چاپ شي.

له ښاغلو استادانو او لیکوالانو څخه د زړه له کومي مننه کوم چې دوامداره زیار یې ایستلی او د کلونو په اوږدو کې یې په خپلو اړوندو څانګو کې درسی کتابونه تألیف او ژباړلي دي، خپل ملي پور یې اداء کړی دی او د پوهې موتور یې په حرکت راوستی دی. له نورو ښاغلو استادانو او پوهانو څخه هم په درنښت غوښتنه کوم تر څو په خپلو اړوندو برخو کې نوي درسي کتابونه او درسي مواد برابر او چاپ کړی، چی له چاپ وروسته د ګرانو محصلینو په واک کې ورکړل شي او د زده کړو د کیفیت په لوړولو او د علمي پروسې په پرمختګ کې یې نېک ګام اخیستی وي.

د لوړو زده کړو وزارت دا خپله دنده بولي چې د ګرانو محصلینو د علمي سطحې د لوړولو لپاره د علومو په مختلفو رشتو کې معیاري او نوي درسی مواد برابر او چاپ کړي.

په پای کی د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمیټې له رئیس ډاکتر ایروس او زموږ همکار ډاکتر یحیی وردګ څخه مننه کوم چې د کتابونو د خپرولو لپاره یې زمینه برابره کړېده.

هیله منده یم چی نوموړې ګټوره پروسه دوام وکړي او پراختیا ومومي تر څو په نیږدې راتلونکې کې د هر درسي مضمون لپاره لږ تر لږه یو معیاري درسي کتاب ولرو.

په درنښت

پوهنوال دوکتور فریده مومند

د لوړو زده کړو وزیره

کابل، ۱۳۹۴

د درسي کتابونو چاپول

قدرمنو استادانو او ګرانو محصلينو!

د افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کموالی او نشتوالی له لويو ستونزو څخه ګڼل کېږي. يو زيات شمير استادان او محصلين نوي معلوماتو ته لاس رسی نه لري، په زاړه ميتود تدريس کوي او له هغو کتابونو او چپترونو څخه ګټه اخلي چې زاړه دي او په بازار کې په ټيټ کيفيت فوتوکاپي کېږي.

تراوسه پورې مونږ د ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ او کاپيسا د طب پوهنځيو او کابل طبي پوهنتون لپاره ۱۷۶عنوانه مختلف طبي تدريسي کتابونه چاپ کړي دي، چې د هغوی له جملې څخه ۹۵ د DAAD او ۸۰ نور د kinderhilfe-Afghanistan په مالي مرسته چاپ شوي دي. د ننګرهار پوهنتون لپاره د ۲۰ نورو غيرطبي کتابونو د چاپ چارې روانې دي. د يادونې وړ ده چې نوموړي چاپ شوي کتابونه د هيواد ټولو طب پوهنځيو ته په وړيا توګه ويشل شوي دي.

هر څوک کولای شي ټول چاپ شوی طبي او غير طبي کتابونه

د www.afghanistan-ecampus.org ويب پاڼې څخه ډاونلوډ کړي.

دا کړنې په داسې حال کې تر سره کېږي چـــــې د افغانستان د لوړو زده کـــــړو وزارت د (۲۰۱۰ ـ ۲۰۱۴) کلونو په ملي ستراتيژيک پلان کې راغلي دي چې:

"د لوړو زده کړو او د ښوونې د ښه کيفيت او زده کوونکو ته د نويو، کره او علمي معلوماتو د برابرولو لپاره اړينه ده چې په دري او پښتو ژبو د درسي کتابونو د ليکلو فرصت برابر شي د تعليمي نصاب د ريفورم *لپاره له انګريزي ژبې څخه دري او پښتو ژبو ته د کتابونو او درسي موادو ژباړل اړين دي، له دې امکاناتو څخه پرته د پوهنتونونو محصلين او استادان نشي کولای عصري، نويو، تازه او کره معلوماتو ته لاس رسی پيدا کړي".*

د لوړو زده کړو وزارت، پوهنتونونو، استادانو او محصلينو د غوښتنې په اساس موږ دا پروګرام غير طبي برخو ته لکه ساينس، انجنيري، کرهنې او نورو پوهنځيو ته هم وغځاوه، تر څو د مختلفو پوهنتونونو او پوهنځيو د اړتيا وړ کتابونه چاپ شي.

مونږ غواړو چې د درسي کتابونو په برابرولو سره د هيواد له پوهنتونو سره مرسته وکړو او د چپټر او لکچر نوټ دوران ته د پای ټکی کېږدو. د دې لپاره دا اړينه ده چې د لوړو زده کړو د موسساتو لپاره هر کال څه نا څه ۱۰۰ عنوانه درسي کتابونه چاپ شي.

له ټولو محترمو استادانو څخه هيله کوو، چې په خپلو مسلکي برخو کې نوي کتابونه وليکي، وژباړي او يا هم خپل پخواني ليکل شوي کتابونه، لکچر نوټونه او

چېټرونه ایډېټ او د چاپ لپاره تیار کړي. زمونږ په واک کې یې راکړي، چې په ښه کیفیت چاپ او وروسته یې د اړوندې پوهنځۍ استادانو او محصلینو په واک کې ورکړو. همدارنګه د یادو شویو ټکو په اړوند خپل وړاندیزونه او نظریات له مونږ سره شریک کړي، تر څو په ګډه پدې برخه کې اغیزمن ګامونه پورته کړو.

د یادونې وړ ده چې د مولفینو او خپروونکو له خوا پوره زیار ایستل شوی دی، ترڅو د کتابونو محتویات د نړیوالو علمي معیارونو په اساس برابر شي، خو بیا هم کیدای شي د کتاب په محتوی کې ځینې تیروتنې او ستونزې ولیدل شي، نو له درنو لوستونکو څخه هیله مند یو تر څو خپل نظریات او نیوکې مولف او یا مونږ ته په لیکلې بڼه راولیږي، تر څو په راتلونکي چاپ کې اصلاح شي.

د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمیټې او د هغې له مشر ډاکتر ایروس څخه ډېره مننه کوو چې د دغه کتاب د چاپ لګښت یې ورکړی دی. دوی په تیرو کلونو کې هم د ننګرهار د طب پوهنځي د ۸۰ عنوانه طبي کتابونو د چاپ لګښت پر غاړه درلود.

په ځانګړي توګه د جي آی زیت (GIZ) له دفتر او Center for International) CIM) Migration & Development چې زما لپاره یې په تېرو پنځو کلونو کې په افغانستان کې د کار امکانات برابر کړی دي، هم د زړه له کومې مننه کوم.

د لوړو زده کړو وزیره پوهنوال دوکتور فریده مومند، علمي معین پوهنوال محمد عثمان بابري، مالي او اداري معین پوهنوال ډاکتر ګل حسن ولیزي، د ننګرهار پوهنتون سرپرست رییس پوهنوال ډاکتر محمد طاهر عنایت، د ننګرهار پوهنتون پوهنځیو رییسانو او استادانو څخه مننه کوم چې د کتابونو د چاپ لړۍ یې هڅولې او مرسته یې ورسره کړې ده. د دغه کتاب له مولف څخه ډېر منندوی یم او ستاینه یې کوم، چې خپل د کلونو کلونو زیار یې په وړیا توګه ګرانو محصلینو ته وړاندې کړ.

همدارنګه د دفتر له همکارانو هر یو حکمت الله عزیز، احمد فهیم حبیبي او فضل الرحیم څخه هم مننه کوم چې د کتابونو د چاپ په برخه کې یې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړې دي.

ډاکتر یحیی وردګ، د لوړو زده کړو وزارت سلاکار

کابل، جون ۲۰۱۵

د دفتر ټیلیفون: ۰۷۵۶۰۱۴۶۴۰

ایمیل: textbooks@afghanic.org

د عنوانو لیکلړ

سـریـــزه...(1)

1-د صنفي کار ترکیب...(3)

1.1 - د صنفي کار د سرته رسولو عمومي لارښوونې...(3)

1.2- د صنفي کار د ګرافیکي کارونو برارولو لارښوونې...(5)

2- د یو ریخت پښتۍ لرونکي پوښښ د اجزاوو طرحه او محاسبه...................................(6)

2.1 - د ودانۍ د پلان برابرول او ترسیمول...(7)

2.2- د یولو ریزه پوښښ تختو محاسبه...(12)

2.2.1- پوښښ تختې له پاسه د بارونو محاسبه کول..(13)

2.2.2- د پوښښ تختو د مومنټونو او عرضاني قوو پیدا کول...(17)

2.2.3- د پوښښ تختو لپاره د سیخانو د مساحت پیدا کول...(19)

2.2.4- د عرضاني قوو په وړاندې د یو لریزه پوښښ تختو ارزونه..(29)

2.3- د ګاډر محاسبه..(35)

2.3.1- د ګاډر له پاسه د بارونو جمع کول...(35)

2.3.2- د ګاډر له پاسه د ضریبي شویو بارونو له امله د کږېدنې مومنټ او عرضاني قوو پیدا کول...(41)

2.3.3- د ګاډرونو لپاره د سیخانو د مساحتونو پیدا کول...(43)

2.3.4- د عرضاني قوو په وړاندې د ګاډرونو کې محاسبه..(55)

3- د پایو محاسبه..(71)

3.1- د پایو یا ستنو لپاره د (ACI)کود مقرري..(76)

3.2- د پایې له پاسه د بارونو محاسبه کول...(79)

3.3- د پایو لپاره د سیخانو محاسبه..(84)

4- د تهداب محاسبه...(95)

4.1- د تهداب د بدني یا جسم د ابعادو محاسبه کول.. (95)

4.1.1 - د تهداب لاندې د خاورد زغم ازمايښت..(96)
4.1.2-د تهداب د ارتفاع ازمايښت..(97)
4.1.2.1- د دوه لوريز عرضاني قوو محاسبه..(98)
4.1.2.2- د يو لوريزه عرضاني قوي محاسبه..(101)
4.2- د تهداب د محکميت محاسبه..(103)
4.2.1-د کږېدنې يا انحنايي مومنټ محاسبه..(103)
4.2.2- د تهداب لپاره د سيخانو محاسبه کول..(105)
4.2.3- له پايې څخه تهداب دبار د لېږدېدنې ازمايښت..(106)
اخذ ليکونه..(113)

ســــریـــزه

الحمد لله رب العالمین و الصلاة و السلام و بارک علی نبینا الکریم و علی آله و اصحابه اجمعین و بعد

له ډېرې مودې را په دې خوا مې دا هیله لرله ،چې دانجنیري پوهنځي دسیول انجنیري څانګې دڅلورم ټولګی محصلینو لپاره د اوسپنیزکانکرېټي عناصرو د صنفي کارونو د سرته رسولو لارښوود برابر کړم. دا دی د لوي خدای(ج) په مرسته او فضل د دې جوګه شوم چې دا لارښوود تیار کړم.

په دې لارښوود کې د څلورم ټولګي د لومړی سمستر اړونده اوسپنیز کانکرېټي عناصرو مضمون چې په اوونۍ کې درې کرید تونه تدریس کېږي او د هغې تر څنګ صنفي کار هم سرته رسوي ، چې د لکچر برخه په عملی بڼه هر یو محصل د خپل و رکړل شویو ارقامو له مخې د سمستر تر پایه یې سرته رسوي او بیا په پای کې د خپل سرته رسیدلي کار څخه دفاع کوي.

د اوسپنیزکانکرېټي عناصرو په لومړي صنفي کار کې د څو پوړېزه ودانۍ د بار وړونکو عناصرو طرحه او محاسبه د مطالعي لاندي نیول کېږي ، چې په دې متودیکي لارښوود کې په ترتیب سره د یوې درې پوړیزه ودانۍ د ټاکلو ارقامو او مالوماتو له مخې د ودانۍ پلان او په هغې کې د پوښښ اجزا او عناصر ښودل شوي دي.

په دې لارښوود کې د یو لوریزه پوښښ تختو له پاسه د بارونو پیداکول او د هغې له امله د کږېدنې یا انحنایي مومنټونو محاسبه ، د سیخانو د مساحت محاسبه ، د سیخانو ځای په ځای کېدنه او د سیخانو براورد جدول ځای په ځای شوې دی. همداراز په دې متودیکي لارښوود کې د فرعي ګاډرونو له پاسه د عاملو بارونومحاسبه او د هغې له امله د کږېدنې یا انحنایي مومنټونو او عرضاني قوو محاسبه ، د سیخانو د مساحت د پیداکېدنې محاسبې، د سیخانو ځای په ځای کېدنه او د سیخانو براورد جدول په پام کې نیول شوي دي. په یاد لارښوود کې د درې پوړیزه د ودانۍ د پایي له پاسه د بارونو او محوري فشاري قوو د پیداکولو محاسبې ، د پایي د عرضاني مقطعې او د سیخانو د مساحت د پیداکو لو محاسبې سرته رسیدلي دي. همدارنګه د ودانۍ د پایي لاندې تهداب محاسبه و چې په هغې کې په بېلابېلو حالتونو کې د تهداب د لاسته راغلو ابعادو

ازمايښتونه او په نهايت کې د تهداب لپاره د محکميت محاسبه سرته رسيدلی ده ، چې له امله يي په لاس راغلي سيخان په تهداب ځای په ځای شوي دي.

په دې متوديکي لارښوود کې د درې پوړيزه ودانۍ د پوښښ ، پايي او پايي لاندې تهداب لپاره د محاسبو په واسطه د عناصرو په لاس راغلي ابعاد او سيخان په تفصيل سره د عناصرو په عرضاني مقطعو کې ځای په ځای او ښودل شوي دي .

همدا راز ډاډمن يم چې د دې متوديکي لارښوود په مرسته به د څلورم ټولګي د سيول انجنيري څانګې محصلين په دې وتوانيږي ، چې خپل صنفي کارونه په ښه توګه تر سره کړي او په راتلونکي کې به د اوسپنيزکانکريټي عناصرو په محاسبه او ډيزاين کې به د يوه ښه لارښوود په توګه ترې ګټه واخلي.

په درنښـــت

پـــوهنـــدوي ديپلـــوم انجـــنير عـــبادالـــرحـــمن «مـــومـنـد»

د او سپنيز کانکرېټي عناصرو د لومړي صنفي کار میتودیکي لارښوود

1 - د صنفي کار ترکیب

د سیول انجنیري څانګې محصلین د او سپنیز کانکرېټي عناصرو مضمون په لومړي صنفي کار کې د څو پوړېزه ودانۍ د بار وړونکو عناصرو طرحه او محاسبه تر سره کوي. په د ې صنفي کار کې د ودانۍ یو ریخته پوښښ (د پوښښ یو لوریزه تختې One-Way Slabs ، ګاډرونه Beams or Secondary Beams ، ستنې یا پایې Columns او تهداب Footing) طرحه او محاسبې په پام کې نیول شوي دي.

محصلین په ځانګړې توګه د ورکړل شویو لومړنیو ارقامو او مالوماتو له مخې خپل صنفي کار سرته رسوي ، چې په هغې کې بنسټیز مالومات لکه: په پلان کې د څو پوړېزه ودانۍ اوږدوالی او عرض، د پوړنو شمېر ، د پوړنو لوړوالې یا ارتفاع ، د ودانۍ د ډول له مخې د منځنیو پوړونو او د ودانۍ بام له پاسه د اقلیمي شرایطو په پام کې نیولو سره ژوندی بار (Live Load)، د کانکرېټو او فولادي سیخانو ځانګړتیاوې او مشخصات او همداراز د ودانۍ د تهداب لاندې بنسټ او اساس د خاورو ځانګړتیاوې او (Bearing Capacity of Soil) د بارورړلو یا برداشت توان ورکول شوی وي.

1.1 - د صنفي کار د سرته رسولو عمومي لارښوونې

د صنفي کار حجم د څو پوړېزه ودانۍ له باروړونکو عناصرو محاسبه او طرحه یا ډیزاین سرته رسول دي، چې محصلین خپل صنفي کار د لاندېنیو لارښوونو له مخې پر مخ وړي:

(a) - د ودانۍ د ټولو او سپنیزکانکریټي عناصرو محاسبوي شیما ګانې برابرول او د هغوې د ټولو اړینو محاسبوي او هندسي اندازو او ابعادو ټاکل.

(b) - د امــریــکا د کانکــرېټــو انســـتیتوت (American Concrete Institute) یا (ACI Code) کود یا سټندرد او د امریکا د ساختماني انجینرانو ټولنې او د ساختماني انجنیري انستیتوت (ASCE/SEI 7) سټندرد په پام کې نیولو سره د بارونود ترکیبونو(Load Combination) له مخې د محاسبو ي بارونو پیداکول او دهغې له مخې د داخلي قوو (کږېدنې یا انحنایي مومنټونو او عرضاني قوو) محاسبه کول(ستاتیکي محاسبه).

(c) - د حدي حالت په طریقه (Limited State Method) او د مقاومت ضریبونو محاسبې طریقي (Load and Resistance factor Design) یا (LRFD) پر بسـنټ پــه کــرېدنه یا انحـــنا کې د مقطـعو محـــاســبه او ډیــزایـــن (Design in Bending)، د عرضي قوو په وړاندي محاسبه (Shear Design)، د محوري فشاري بارونو اوقوو (Axially compression Loaded) په وړاندې د پایو یا ستنو محاسبه (Columns Design) ، د محورې فشاري بارونو اوقوو (Axially Compression Loaded) او د خــاورو د خــالص پورته کوونکو قــوویا فشــار (Net Upword Pressure) په وړاندې د تهداب محاسبه (Footing Design) او د سرته رسیدلو محاسبو په واسطه د قبولو شویواندازه ازماینبنت کول ، د ځای په ځای کېدونکو سیخانو پیداکول او د هغې د موقیعیت ټاکل.

د ودا نۍ د ټولو اوسپنیز کانکرېټي عناصرو شیماتیک ترسیم د هغې د اړونده ټولواندازوسره په تشریحي پاڼو کې ځای په ځای کیږي.

د ودانۍ د هر ی برخې او هراوسپنیز کانکرېټي عنصر د محاسبې څخه وروسته ، باید د هغه عنصر اړونده ساختماني پروژوي سکیچ (Sketch) برابر او هغه د اړونده قبولو شویو او محاسبه شویو اندازو سره په ګرافیکي لست کې په تفصیلي توګه ښودل کیږي ، چې سکیچونه یې په تشریحي پاڼو کې ځای په ځای کیږي.

ګرافيکي لست د کاري نقشې په څېر د ټولو او سپنيز کانکرېټي عناصرو د محاسبې د اجراکولو او سرته رسولو څخه وروسته د هر محصل د ورکړل شويو ارقامو او مالوماتو له مخې تيارېږي.

1.2- د صنفي کار د ګرافيکي کارونو برابرولو لارښوونې

ګرافيکي برخه (ګرافيکي لست) د کمپيوټر (Auto Cad) پروګرام کې په (A_2) ستنډرد کاغذ کې ، د پوهنځی د ټاکلي جدول (Title Box) په پام نيو لو سره چاپېږي ، چې د هر عنصر اندازې او مقياسونه په لاندې ډول په پام کې نيول کېږي:

(a) - دوداني د پوښښ پلان ، چې په هغې کې ټولې اندازې په بشپړه توګه ښودل شوي وي،لکه په (1- شکل) کې چې ښودل شوي دي، د (Scale 1 : 200) په مقياس ترسيمول.

(b) - د پوښښ تختو (Slabs) سيخبندي (Reinforcement) پلان او قطعه (Section)، چې لږ تر لږه د دوه نيموو ايو ښودنه په کې شوي وي او په هغې کې بايد ټول ځای په ځای کېدونکې سيخان و ښودل شي ، لکه په (6) او(7) شکلونو کې د (Scale 1 : 20) ، (Scale 1 : 25) او (Scale 1 : 50) په مقياسونو ترسيمول.

(c) - د ګاډر سيخبندي (Beams or Secondary Beams Reinforcement) ، د هغې د ټولو اندازو او سيخانو په تفصيلِ ښودني سره او همدارنګه د ګاډرونو د مقطعو(Sections) اوعرضاني سيخانو يا ګڼدمکونو(Stirrups) د هغې د ټولو اندازو سره ، لکه په (10) او (11) شکلونو کې چې ښودل شوي دي د (Scale 1 : 50او (Scale 1 : 10) په مقياسونو ترسيمول.

(d) - د پايو سيخبندي (Column Reinforcement) ، د(Scale 1 : 50) په مقياس د هغې د ټولو اندازو او سيخانو په ښودلو سره او همدارنګه د ګاډرونو سره د پايو پيوندونه او د پايو د مقطعو (Sections) او د ګڼدمکونو(Ties) د هغې د

ټولو اندازو سره د(Scale 1 : 10) په مقیاس ترسیمول ، لکه په (5 - شکل) کې چې ښودل شوي دي.

(e) - د تهداب د سیخبندي (Footing Reinforcement) ، دهغې د ټولو اندازو اوځای په ځای کېدونکو سیخانو او همدارنګه دپایې یا ستنې سره دنښلېدونکو و لاړو سیخانو (Dowels) سره ، ، لکه په (6 - شکل) کې چې ښودل شوي دي د(Scale 1 : 50) او د(Scale 1 : 25) په مقیاسونو دهغې نښلېدنې ترسیمول.

(f) - د ټولو ترسیم شویو اوسپنیزکانکریټي عناصرو لپاره د سیخانو د ځانګړتیاوو یا مشخصاتو جدولونو برابرول او د هغې له مخې د سیخانو د مصرف ټاکل ، لکه په (3) ، (4) ، (7) او (8) جدولونو کې چې ښودل شوي دي.

2 - د یو ریخت پښتې لرونکي پوښښ د اجزاوو طرحه او محاسبه

(Design of the monolithic ribbed floors structures)

اړینه ده ، چې د دې ډول پوښښونو طرحه او محاسبه د ورکړل شویو ارقامو له مخې تر سره شي او د تشریحي پاڼو سره ضمیمه شي.

دیو ریخته څو وایه لرونکو پرله پسې یو لوریزه پوښښ تختو او ګاډرونو محاسبه د مړو یا دایمي (ثابتو) او ژوندیو یا مؤقتو وېشلي محاسبوي یا ضریبي شوی بارونو(Factored Loads) له امله چې د کود او ستندردونو د لارښوونو له مخې محاسبه کېږي، د اړونده فورمولونو او پرنسیپونو په پام کې نیولو سره په لاندې ډول سرته رسېږي.

2.1 - د ودانۍ د پلان برابرول او ترسيمول

پښتنۍ يا وتلې برخې لرونکې يو ريخت پوښښونه ، چې ګاډر ته ورته يو لوريزه پوښښ تختو (One –Way Slabs) چې په لنډه لوري يې اوږدوالی د فرعی ګاډرونو تر منځ فاصلې سره مساوي وي ،د (Beams or Secondary Beams) فرعي ګاډرونو او اساسي ګاډرونو (Girders or Main Beams) څخه ترکيب مومي. د دې ډول پوښښونو په ټولو اجزاوو او عناصر و چې د ($f'_c = 20MPa$) او($f'_c = 25MPa$) مارک يا فشاري مقاومت لرونکي کانکريټ په کې کارېږي ،يو له بل سره يو ريخته (Monolitically) اړيکي لري، چې په ترتيب سره ديو لوريزه پوښښ تختي ، د فرعي ګاډرونو او فرعي ګاډرونه د اساسي ګاډرونو له پاسه او اساسي ګاډرونه په پايو او پايې يا ستنې په تهداب باندې تکيه دي.

اساسي ګاډرونه (Girders or Main Beams) د (6 -9 m) مترونو اوږدوالي پورې د ودانۍ په اوږد او لنډ لورو ځای په ځای کېږي. فرعي کاډورونه (Beams or Secondary Beams) د اساسي ګاډرونو له پاسه دودانۍ په اوږد يا لنډ لوري د (4 – 6 m) مترو په اوږدوالی پورې داسې ځای په ځای کېږي ، چې د دې فرعي ګادرونو څخه د يوه فرعي ګاډر محور د پايو د محور سره مطابقت وکړي. يو لوريزه پوښښ تختې (One –Way Slabs) د فرعي ګاډرونو له پاسه د اسې ځای په ځای کېږي ، چې د پوښ تختو په لنډ لوري اوږدوالي يې د (1.5 – 3.0 m) مترو پورې په پام کې ونيول شي.

د (ACI 318) کود د لارښوونو له مخې د ګاډرونو داصغري ارتفاع ($h > h_{min}$) د ټاکنې لپاره د (1- جدول) ، او د پوښښ تختې ضخامت د (2 – جدول) څخه ګټه اخلو چې د ګاډرونو لپاره دکود د غوښتنې له مخې د کږوېدنې يا خميده ګۍ (deflection) لپاره محدوده شوي دي او همدارنګه د ګاډرونو د عرضاني مقطعې عرض د ($b = h/2$) څخه تر ($b = h/1.5$)پورې قبلېږي.

1- جدول:پرته له کړوپېدنې (Deflection) د پیداکولو څخه د اوسپنیز کانکرېټي ګاډرونو اصغري ضخامت یا ارتفاع (h_{min}).

عنصر Member	ساده اتکاء لرونکی Simple supported	یو لورې ته ادامه لرونکی One-End Continuous	دواړو لوروته ادامه لرونکی Both-End Continuous	کانټیلیور Cantilever
ګاډر Beam	وایه /16	وایه /18.5	وایه /21	وایه /8

2- جدول: پرته له کړوپېدنې (Deflection) د اوسپنیز کانکرېټي پوښښ تختو ضخامت (h_{min}).

عناصر Members	ساده اتکاء لرونکی Simple Supported	یولورې ته ادامه لرونکی One-End Continuous	دواړه لوروته ادامه لرونکی Two-End Continuous	کانټیلیور Cantilever
جامد یو لورېزه پوښښ تخته Solid One-Way Slab	وایه/20 Span/20	وایه/24 Span/24	وایه/28 Span/28	وایه/10 Span/10

د پورتنیو مالوماتوپه پام کې نیولو سره دیوې درې پوړیزه ودانۍ لپاره چې اوږدوالی یې (54.00 m) متره ، عرض یې (21.60 m) متره، د ودانۍ د پوړونو ارتفاع یې (3.00 m) متره وي او همدارازد ودانۍ په منځنیو پوړونو کې ($5000\ N/m^2$) ژوندی یا مؤقت بار اود بام له پاسه د واورې ژوندی یا مؤقت بار ($1000\ N/m^2$) ، د ودانۍ د ځمکې څخه د تهداب ژوروالی (1.50 m) متره او د (Bearing capacity of Soil) خاورې

د برداشت یا زغم توان یې (0.32 MPa) په پام کې نیول شوی دی. د اوسپنیزکانکریټي پوښښ د بنسټیزو یا اساسي عناصرو او اجزاوو محاسبه کوو.

د یادو شویو ارقامو او مالوماتو په پام کې نیولو سره د ودانۍ د پوښښ پلان جوړوو، چې په هغې کې داساسي ګاډرونو (Girder or Main Beam)، د فرعي ګاډرونو(Beams or Secondary Beams) د عرضاني مقطعو (Cross Sectionas) ابعاداو د پوښش تختو ضخامت(Thickness of Slabs) په لاندې ډول په لاس راوړو:

1 - د اساسي ګاډر(Girders or Main Beams) لپاره :

د اساسي ګاډر اصغري ارتفاع مساوي کېږي په:

$h_{min} = (7200) / (21) = 343mm$

خو د اساسي ګاډر ارتفاع $h = (7200) /12 = 600mm = 60cm$ او د عرضاني مقطعې عرض یې $b = 0.5 h = 0.5 x 600 = 300 mm = 30 cm$ قبلوو.

2 - د فرعي ګاډر(Beams or Secondary Beams) لپاره :

دفرعي ګاډر اصغري ارتفاع $h_{min} = (6000) / (21) = 286mm$

خو $h = (6000) /15 = 400mm = 40cm$ او د عرضاني مقطعې عرض یې ($b = 0.5 h = 0.5 x 400 = 200 mm = 20 cm$) قبلوو.

د اساسي ګاډرونو او فرعي ګاډرونود عرضاني مقطعو د لاس ته راغلیو ابعادو او اندازو له مخې د ودانۍ پلان ، د ودانۍ د لنډ لوري قطعه (Section A-A) او د ودانۍ د اوږد لوري قطعه (Section B-B) په لاند ېنیو(1, 2) او (3) شکلونو کې ښودل شوي دي.



شکل: د ودانۍ پلان -1



2- شکل: د ودانۍ عرضاني قطعه



3- شکل: د ودانۍ طولاني قطعه

2.2 - دیو لوریزه پوښښ تختو محاسبه (Design of One -Way Slabs)

د یو لوریزه پوښښ تختو د محاسبې لپاره د پورتنې برابر شوي پلان له مخې د پوښښ تختې (Slabs) په اوږد لوري او لنډ لوري محاسبوي وایې په لاندې ډول په لاس راوړو:

په (3 - شکل) کې د ښودل شوی اوږدو لوری د (B-B) قطعې له مخې د پوښښ تختې (Slab) په اوږد لوري محاسبوي وایې اوږدوالی مساوي کېږي په:

$$L_{n1} = L - b_g = 6000 - 300 = 5700 \text{ mm} = 570 \text{ cm} = 5.7 \text{ m}.$$

په پورتنې فورمول کې:

(L_{n1}) - د پوښښ تختې (Slab) د اوږد لوري وایې محاسبوي اوږدوالی دی.

($L = 6000$ mm) - د پوښښ تختې (Slab) د اوږد لوري وایې اوږدوالی دی.

($b_g = 300$ mm) - د اساسي ګاډر عرض دی.

په (2 - شکل) کې د ښودل شوي لنډ لوري د (A-A) قطعې له مخې د پوښښ تختې (Slab) په لنډ لوري محاسبوي وایې اوږدوالی مساوي کېږي په:

$$L_{n2} = L - b_b = 2400 - 200 = 2200 \text{ mm} = 220 \text{ cm} = 2.2 \text{ m}.$$

په پورتنې فورمول کې:

(L_{n2}) - د پوښښ تختې (Slab) د لنډ لوری وایې محاسبوې اوږدوالی دی.

($L = 2400$ mm) - د پوښښ تختې (Slab) د لنډ لوری وایې اوږدوالی دی.

($b_b = 200$ mm) - د فرعي ګاډر عرض دی.

د دې لپاره چې د پوښښ تختې (Slab) ډول وپېژنو اړینه ده ، چې د پوښښ تختې د اوږد او لنډ لورو د محاسبوي وایو نسبت پیدا کړو ، که چېرې دا نسبت ($L_{n1} / L_{n2} \geq 2.0$) له دوو څخه ډېر اویا له دوو سره مساوي وي نو د پوښښ تخته د یولوریزې د پوښښ تختې (One-Way Slab) په څېر او که چېرې یې نسبت له دوو څخه کوچنی وي ($L_{n1} / L_{n2} <$ 2.0)، نود دوه لوریزه د پوښښ تختې (Two-Way Slab) په څېر محاسبه کېږي.

د پوښښ تختې (Slab) دا نسبت په لاندې ډول محاسبه کوو :

$$L_{n1}/L_{n2} = (5.7) / (2.2) = 2.29 > 2.$$

د پورتنې نسبت څخه څرګنده شوه ، چې زمونږ د پام وړ د پوښښ تختې (Slabs) ، یولوریزې پوښښ تختې (One-Way Slab) ته ورته دی ، چې یوازې په لنډ لوری په کږیدنه یا انحناء کې محاسبه کیږي او محاسبوي شیما یې د پرله پسې ګاډرونو (Continuous Beams) په څیروي.

2.2.1- پوښښ تختی له پاسه د بارونو محاسبه کول

(Load Calculation on Slabs)

مخکې له دې چې د پوښښ تختو (Slabs) له پاسه بارونه پیدا کړو ، اړینه ده چې د (ACI Code) د غوښتنې له مخې د پوښښ تختو (Slabs) اصغري ضخامت یا پنډوالی (Thickness) دوا ړو لورو ته ادامه کوونکې پوښښ تختو (Slabs) لپاره د (2- جدول) له مخې په لاندې ډول پیدا کړو:

Thickness of slab (h_s) = Span/28 = L / 28 = 2400 /28 = 86 mm ≈ 90 mm

(h_s) = 0.90 cm.

د پورتنۍ محاسبې له مخې د پوښښ تختو لپاره ضخامت باید چې له (9 cm) څخه لږ ونه نیول شي ، خوکولی شو چې د پوښښ تختې (Slab) ضخامت له دې اندازې څخه ډیریانې (12 cm) قبول کړو ، نو د پوښښ تختو لپاره ضخامت (12 cm = 120 mm) قبلوو. اوس د پوښښ تختې له پاسه بارونه په لاندې ډول جمع کوو:

A - دايمي (ثابت)يا مړه بارونه (Dead Loads):

1 - د پوښښ تختي د خپل وزن له امله بار:

د پوښښ تختې د خپل وزن = د پوښښ تختې ضخامت X د کانکریټو حجمي وزن

$$W_{D1} = \delta \times \gamma = 0.12 \times 25\ KN/m^3 = 3.00\ KN/m^2.$$

په پورتنۍ فورمول کې د کانکرېټو حجمي وزن ($\gamma = 25\ KN/m^3$) او د پوښښ تختې ضخامت ($\delta = 12cm = 120\ mm$) په پام کې نیول شوی دی.

2- د پوښښ تختې له پاسه د فرش لپاره د سمنټي مسالې د وزن له امله بار:

د پوښښ تختې له پاسه سمنټي مسالې وزن مساوي = د سمنټي مسالې ضخامت X د سمنټي مسالې حجمي وزن

$$W_{D2} = \delta \times \gamma = 0.02 \times 22\ KN/m^3 = 0.44\ KN/m^2.$$

په پورتنۍ فورمول کې د سمنټي مسالې حجمي وزن ($\gamma = 22\ KN/m^3$) او د سمنټي مسالې ضخامت ($\delta = 2cm$) په پام کې نیول شوی دی.

3 - د پوښښ تختې له پاسه د فرش د وزن له امله بار:

د پوښښ تختې له پاسه د فرش وزن = د فرش ضخامت X د فرش حجمي وزن

$$W_{D3} = \delta \times \gamma = 0.03 \times 22\ KN/m^3 = 0.66\ KN/m^2.$$

پـه پـورتنۍ فـورمول کې د فرش حجمي وزن ($\gamma = 22\ KN/m^3$) او د فرش ضخامت ($\delta = 3cm$) په پام کې نیول شوی دی.

4 - د پوښښ تختې د پلستر د وزن له امله بار:

د پوښښ تختې پلستر وزن = د پلستر د مسالې ضخامت X د پلستر مسالې حجمي وزن

$$W_{D4} = \delta \times \gamma = 0.02 \times 18\ KN/m^3 = 0.36\ KN/m^2.$$

په پورتنۍ فورمول کې د پلستر مسالې حجمي وزن ($\gamma = 18\ KN/m^3$) دی او همدارنګه د پلستر دمسالې ضخامت ($\delta = 2cm$) په پام کې نیول شوی دی.

د دايمي يا مړو بارونو (Dead Loads) مجموعه په لاندې ډول محاسبه کوو:

$W_D = W_{D1} + W_{D2} + W_{D3} + W_{D4} = 3.00 + 0.44 + 0.66 + 0.36 = 4.46\ KN/m^2$.

B - ژوندی یا مؤقت بار: (Live Load):

د ورکړل شويو ارقامو له مخې مؤقت يا ژوندی بار مساوي کېږي په:

$W_L = 5000\ N/m^2 = 5.00\ KN/m^2$.

د امريکا د ساختماني انجينرانو ټولنې او د ساختماني انجنيری انستيتوت (ASCE/SEI 7) ستهندرد په پام کې نيولو سره د بارونوترکيب له مخې نهايې ضريبي شوی بارپه لاندې ډول تر سره کوو:

$W_U = 1.2\ W_D + 1.6\ W_L = 1.2 \times 4.46 + 1.6 \times 5.0 = 13.352\ KN/m^2$

$W_U = 13.4\ KN/m^2$.

د پوښښ تختې د محاسبې لپاره د يوه متر په عرض محاسبوې تسمه (Design Strip) په پام کې نيول کېږي ، چې د دې له امله په يو متر کې نهايې ضريبي شوی وېشلی بارونو (Ultimate Factored Distributed loads) اندازه په لاندې ډول محاسبه کوو:

$W_U = 13.4\ KN/m^2 \times 1.0\ m = 13.4\ KN/m$.

د پوښښ تختو له پاسه په لاس راغلې (Ultimate Factored Distributed loads) نهايې ضريبي شوي وېشلي بارونو له امله د کږېدنې يا انحنايي مومنتونه (Bending Moments) او عرضاني قوي (Shear Forces) په (4- شکل) کې ښودل ښودل شوي دياګرام له مخې په لاس راوړو.



4- شکل: دیو لریزي پوښښ تختې (One-Way slab) د باریدنې، کږیدنې یا انحنایي مومنټ او عرضاني قوو شیماتیک دیاګرام

2.2.2- د پوښښ تختو د مومنټونو او عرضاني قوو پیدا کول

د پورتني دیاګرامونو له مخې د کږیدنې یا انحنایي مومنټونو او عرضاني قوو قیمتونه په لاندې ډول پیدا کوو :

I- د پوښښ تختو د کږیدنې یا انحنایي مومنټونه:

د کږیدنې یا انحنایي مومنټ د لاندېنې فورمول په واسطه پیدا کېږي:

$$M_U = C_m W_U L_n^2$$

په پورتنې فورمول کې:

M_U - نهایي ضریبي شوی کږیدنې یا انحنایي مومنټ دی.

W_U - نهایي ضریبي شوی بار دی.

L_n- د وایې محاسبوي اوږدوالی دی.

C_m - د مومنټ ضریبونه دي ، چې د اتکاوو او وایو د موقیعیت له مخې ټاکل کېږي. د لومړۍ اتکاء لپاره $(C_m = 1/24)$ ، د لومړۍ وایې لپاره $(C_m = 1/14)$ ، د دویمي اتکاء چپ لوری لپاره $(C_m = 1/10)$ ، د دویمي اتکاء ښي لوری لپاره $(C_m = 1/11)$ ، منځنیو وایو او منځنیو اتکاوو لپاره $(C_m = 1/16)$ په پام کې نیول کېږي. د دې ضریب په پام کې نیولو سره د ټولو وایو او اتکاګانو لپاره د کږیدنې یا انحنایي مومنټونه په لاندې ډول پیدا کوو:

1- د لومړنۍ اتکاء لپاره :

$$M_A = \frac{1}{24} W_U L^2 = \frac{1}{24} \text{ x } 13.4 \text{ x } (2.2)^2 = 2.702 \text{ KN.m/m}$$

2- د لومړنۍ وایې لپاره :

$$M_1 = \frac{1}{14} W_U L^2 = \frac{1}{14} \text{ x } 13.4 \text{ x } (2.2)^2 = 4.633 \text{ KN.m/m}$$

3- د دویمې اتکاء چپ لوري لپاره :

$$M_{BL} = \frac{1}{10} W_U L^2 = \frac{1}{10} \text{ x } 13.4 \text{ x } (2.2)^2 = 6.486 \text{ KN.m/m}$$

4- د دویمي اتکاء ښي لوري لپاره :

$M_{BR} = \frac{1}{11} W_U L^2 = \frac{1}{11} \times 13.4 \times (2.2)^2 = 5.896$ KN.m/m

5- د دويمې او منځنيو وايو لپاره :

$M_2 = \frac{1}{16} W_U L^2 = \frac{1}{16} \times 13.4 \times (2.2)^2 = 4.054$ KN.m/m

6- د درېمې او منځنيو اتکاوو لپاره :

$M_C = \frac{1}{11} W_U L^2 = \frac{1}{11} \times 13.4 \times (2.2)^2 = 5.896$ KN.m/m

II- د پوښښ تختو د عرضاني قوو محاسبه:

عرضاني قوې د لاندېنې فورمول په واسطه پیدا کېږي:

$V_U = C_v W_U L_n/2$

په پورتنې فورمول کې:

V_U - نهايي ضريبي شوې عرضاني قوه ده.

W_U - ضريبي شوی بار دی.

L_n - د وايې محاسبوي اوږدوالی دی.

C_v - د عرضاني قوې ضريبونه دي ، چې د اتکاوو او وايو د موقيعيت له مخې ټاکل کېږي. د لومړۍ اتکاء لپاره ($C_v = 1.0$) ، د دويمې اتکاء چپ لوري لپاره ($C_v = 1.15$) ، د دويمې اتکاء ښي لوري لپاره ($C_v = 1.0$) او د منځنيو اتکاوو لپاره ($C_v = 1.0$) په پام کې نيول کېږي. د دې ضريبونو په پام کې نيولو سره د ټولو اتکاوو لپاره عرضاني قوې په لاندې ډول پیدا کوو:

1- د لومړنې اتکاء لپاره :

$V_{UA} = 1.0\ W_U L/2 = 1.0 \times 13.4 \times (2.2/2) = 14.74$ KN/m

2- د دويمې اتکاء چپ لوري لپاره :

$V_{UBL} = 1.15\ W_U L/2 = 1.15 \times 13.4 \times (2.2/2) = 16.95$ KN/m

3- د دويمې اتکاء ښي لوري لپاره :

$V_{UBR} = 1.0\ W_U L = 1.0 \times 13.4 \times (2.2/2) = 14.74$KN/m

4- د درېمې او منځنيو اتکاوو لپاره :

$V_{UC} = 1.0\ W_U L = 1.0 \times 13.4 \times (2.2/2) = 14.74$ KN/m

2.2.3- دیولوریزه پوښښ تختو (One-Way slabs) لپاره د سیخانو د مساحتونو پیداکول:

مخکې له دې چې د سیخانو مساحت په لاس راوړو اړینه ده، چې د کانکریټو او فولادي سیخانو ځانګړتیاوې یا مشخصات (f'_c = 20 Mpa = 20 N/mm^2) مارک کانکریټو او د سیخانو کششي مقاومت د تسلیمیدنې په حالت کې (f_y = 420 MPa = 420 N/mm^2) وټاکو او د عرضاني مقطعې فعاله ارتفاع پیداکړو، چې په لاندې ډول یې په لاس راوړ:



5- شکل: دیو لوریزه پوښښ تختې (One-Way slab) د فعالی ارتفاع شیما.

d = h – Cover = 120 – 20 = 100mm = 10 cm

په پورتنې فورمول کې:

d- فعاله ارتفاع (Effective depth) دی.

h- د پوښښ تختې بشپړه ارتفاع یا ضخامت (Thickness) دي، چې (h = 120mm = 12cm) سره مساوي کېږي.

Cover - په کانکریټو کې د سیخانو د پوښلو یا محافظوي طبقی اندازه ده، چې د پوښښ په تختو کې د(1.5 cm) سانتي مترو څخه تر (2.0 cm) سانتي مترو پورې نیول کېږي.

2.2.3- د پوښښ تختو لپاره د سيخانو د مساحت پيدا کول

د يو لوريزه پوښښ تختو لپاره د کږيدنې يا انحنايي مومنټونو له مخې د سيخانو مساحت په لاندې ډول پيدا کوو:

1 - د لومړۍ اتکاء لپاره :

$M_{UA} = 2.702$ KN.m/m

$M_{nA} = M_{UA} / \phi = 2.702 / 0.90 = 3.00$ KN.m/m $= 3.0 \times 10^6$ N.mm/m.

$$R_{nA} = \frac{M_{UA}}{\phi b d^2} = \frac{2.702 \times 10^6}{0.9 \times 1000 \times 100^2} = 0.317 \text{ N/mm}^2 = 0.30 \text{ MPa.}$$

$R_{nA} = M_{nA} / b\, d^2 = (3.0 \times 10^6) / [1000 \times (100)^2] = 0.30$ N/mm^2.

$$\rho = \frac{1}{m}\left(1 - \sqrt{1 - \frac{2mR_n}{f_y}}\right)$$

$$m = \frac{f_y}{0.85f'_c} = \frac{420}{0.85 \times 20} = 24.71$$

$$\rho = \frac{1}{m}\left(1 - \sqrt{1 - \frac{2mR_n}{f_y}}\right) = \frac{1}{24.71}\left(1 - \sqrt{1 - \frac{2 \times 24.71 \times 0.317}{420}}\right)$$

$\rho = 0.00076.$

$\rho = (0.85f'_c / f_y) .[1 - (1 - 2R_{nA} / 0.85f'_c)^{1/2}]$

$\rho = (0.85 \times 20 / 420) .[1 - (1 - 2 \times 0.3 / 0.85 \times 20)^{1/2}] = 0.0405 \times 0.018$

$\rho = 0.00076.$

$A_{sA} = \rho\, bd = 0.00072 \times 1000 \times 100 = 76$ mm^2/m.

$A_{min} = \rho_{min}\, bh = 0.002 \times 1000 \times 120 = 240$ mm^2/m.

داچې د سيخانو اضغري مساحت د سيخانو د واقعي مساحت څخه ډېر دی ، نو په لومړۍ اتکاء کې د سيخانو اصغري مساحت ($A_{min} = 240$ mm^2/m) قبلوو.

په پورتنې فورمول کې (A_b) د (10 mm) ملي متر قطر لرونکي سيخ د يو سيخ د عرضاني مقطعې مساحت دي ، چې د ($A_b = 3.14 \times (10)^2/4 = 78$ mm^2) سره مساوي کېږي. همدارنګه د پوښښ تختي (slab) په يو متر محاسبوي تسمه (Strip) کې د سيخانو شمېر په لاندې ډول پيدا کوو :

No. of steel bars = $A_s/A_b = 240/78 = 3.08$ Nos/m ≈ 3.0 Nos

نو د پوښښ تختي (slab) په یو متر محاسبوي تسمه (Strip) کې د درې سیخان ځای په ځای کېږي. همدارنګه د سیخانو تر منځ مرکز تر مرکزه اعظمي فاصله د (ACI Code) غوښتنې له مخې د لاندېنیو پیدا کیدونکو قیمتونو څخه تر ټولو کوچنی قیمت ټاکل کېږي:

$S = \frac{A_b \text{ x } 1000}{A_s} = \frac{78 \text{ x } 1000}{240} = 325$ mm C/C.

$S = 1000/3 = 333$ mm

$S_{max} = 3h = 3 \text{ x } 120 = 360$mm

$S_{max} = 450$ mm

$S_{max} = 380\ (280/f_s) – 2.5\ Cc = 380 \text{ x } [280/(2/3) \text{ x } 420] – 2.5 \text{ x } 20$

$S_{max} = 330$ mm

$S_{max} = 300\ (280/f_s) = 300 \text{ x } [280/(2/3) \text{ x } 420] = 300$ mm

په پورتنیو فورمولونو کې: ($f_s = \frac{2}{3} f_y = \frac{2}{3} \text{ x } 420$) - د فولادي سیخانو کششي مقاومت دی او (Cc = 20mm) - په کانکرېټو کې د سیخانو پوښل یا محافظوي طبقه ده. د پورتنیو پنځو په لاس راغلو قیمتونو څخه کوچني قیمت (S_{max} = 300 mm) ټاکو.

په پایله کې د لومړی اتکاء لپاره (10mm dia. @ 300 mm C/C) ځاي په ځای کوو

.

2 - د لومړی وایي لپاره:

$M_{U1} = 4.633$ KN.m.

$M_{n1} = M_{UA} / \phi = 4.633 / 0.90 = 5.15$ KN.m/m $= 5.15 \text{ x } 10^6$ N.mm/m.

$R_{n1} = M_{n1} / b\ d^2 = (5.15 \text{ x } 10^6) / [1000 \text{ x } (100)^2] = 0.515$ N/mm^2.

$R_{nA} = \frac{M_{U1}}{\phi bd^2} = \frac{4.633 \text{ x } 10^6}{0.9 \text{ x } 1000 \text{ x } 100^2} = 0.545$ N/mm^2= 0.515 MPa.

$\rho = \frac{1}{m}\left(1 - \sqrt{1 - \frac{2mR_n}{f_y}}\right)$

$m = \frac{f_y}{0.85f'_c} = \frac{420}{0.85 \text{ x } 20} = 24.71$

$\rho = \frac{1}{m}\left(1 - \sqrt{1 - \frac{2mR_n}{f_y}}\right) = \frac{1}{24.71}\left(1 - \sqrt{1 - \frac{2 \text{ x } 24.71 \text{ x } 0.515}{420}}\right)$

$\rho = 0.0013.$

$\rho = (0.85f'_c / f_y)\ .[1 - (1 – 2R_{n1} / 0.85f'_c)^{1/2}]$

$\rho = (0.85 \text{ x } 20 / 420)\ .[1 - (1 – 2 \text{ x } 0.515 / 0.85 \text{ x } 20)^{1/2}]$

$\rho = 0.0405 \times 0.031 = 0.0013.$

$A_{s1} = \rho\, bd = 0.0013 \times 1000 \times 100 = 130\ mm^2/m.$

$A_{min} = \rho_{min}\, bh = 0.002 \times 1000 \times 120 = 240\ mm^2/m.$

په پورتنۍ فورمول کې (A_b) د (10 mm) ملي متر قطر لرونکي سيخ د يو سيخ د عرضاني مقطعې مساحت دي ، چې د ($A_b = 3.14 \times (10)^2/4 = 78\ mm^2$) سره مساوي کېږي. همدارنګه د پوښښ تختې (slab) په يو متر محاسبوي تسمه (Strip) کې د سيخانو شمېر په لاندې ډول پيدا کوو :

$$\text{No. of steel bars} = A_s/A_b = 240/78 = 3.08\ \text{Nos/m} \approx 4.0\ \text{Nos}$$

نو د پوښښ تختې (slab) په يو متر محاسبوي تسمه (Strip) کې د څلور سيخان ځای په ځای کېږي.

همدا راز د سيخانو تر منځ مرکز تر مرکزه اعظمي فاصله د (ACI Code) غوښتنې له مخې د لاندېنيو پيدا کيدونکو قيمتونو څخه تر ټولو کوچنی قيمت ټاکل کېږي:

$$S = \frac{A_b \times 1000}{A_s} = \frac{78 \times 1000}{240} = 325\ mm\ C/C.$$

$S_{max} = 1000/4 = 250mm$

$S_{max} = 3h = 3 \times 120 = 360mm$

$S_{max} = 450\ mm$

$S_{max} = 380\ (280/f_s) - 2.5\ Cc = 380 \times [280/(2/3) \times 420] - 2.5 \times 20$

$S_{max} = 330\ mm$

$S_{max} = 300\ (280/f_s) = 300 \times [280/(2/3) \times 420] = 300\ mm$

په پورتنيو فورمولونو کې : ($f_s = \frac{2}{3} f_y = \frac{2}{3} \times 420$) - د فولادي سيخانو کششي مقاومت دی او ($Cc = 20mm$) - په کانکرېټو کې د سيخانو پوښل يا محافظوي طبقه ده.

د پورتنيو پنځو په لاس راغلو قيمتونو څخه کوچني قيمت ($S_{max} = 250\ mm$) ټاکو.

په پايله کې د لومړی اتکاء لپاره ($10mm\ dia.\ @\ 250\ mm\ C/C$) ځاي په ځای کوو

.

3 - د دويمې اتکاء چپ لوري لپاره :

$M_{UBL} = 6.486\ KN.m/m$

$M_{nBL} = M_{UBL}/\phi = 6.486 / 0.90 = 7.207\ KN.m/m$

$M_{nBL} = 7.207 \times 10^6\ N.mm/m.$

$R_{nBL} = M_{nBL} / b\,d^2 = (7.207 \times 10^6) / [1000 \times (100)^2] = 0.721\ N/mm^2$.

$R_{nA} = \frac{M_{UA}}{\phi b d^2} = \frac{6.486 \times 10^6}{0.9 \times 1000 \times 100^2} = 0.721\ N/mm^2 = 0.721\ MPa$.

$$\rho = \frac{1}{m}\left(1 - \sqrt{1 - \frac{2mR_n}{f_y}}\right)$$

$$m = \frac{f_y}{0.85f'_c} = \frac{420}{0.85 \times 20} = 24.71$$

$$\rho = \frac{1}{m}\left(1 - \sqrt{1 - \frac{2mR_n}{f_y}}\right) = \frac{1}{24.71}\left(1 - \sqrt{1 - \frac{2 \times 24.71 \times 0.721}{420}}\right)$$

$\rho = 0.00176$.

$\rho = (0.85f'_c / f_y) .[1 - (1 - 2R_{nBL} / 0.85f'_c)^{1/2}]$

$\rho = (0.85 \times 20 / 420) .[1 - (1 - 2 \times 0.721 / 0.85 \times 20)^{1/2}]$

$\rho = 0.0405 \times 0.0434 = 0.00176$.

$A_{sBL} = \rho\, bd = 0.00176 \times 1000 \times 100 = 175\ mm^2/m$.

$A_{min} = \rho_{min}\, bh = 0.002 \times 1000 \times 120 = 240\ mm^2/m$.

داچې د سیخانو اضغري مساحت د سیخانو د واقعي مساحت څخه ډېر دی ، نو په لومړۍ وایه کې د سیخانو اضغري مساحت ($A_{min} = 240\ mm^2/m$) قبلوو. داچې په پوښښ تخته کې (10mm) ملي متر قطر لرونکي سیخان ځای په ځای کوو، نو دسیخانو د مرکزونو تر منځ فاصله (S) مساوي کېږي په:

$$S = \frac{A_b \times 1000}{A_s} = \frac{78 \times 1000}{240} = 325\ mm\ C/C.$$

په پورتنې فورمول کې (A_b) د (10 mm) ملي متر قطر لرونکي سیخ د یوسیخ د عرضاني مقطعې مساحت دي ، چې د ($A_b = 3.14 \times (10)^2/4 = 78\ mm^2$) سره مساوي کېږي. همدارنګه د پوښښ تختي (slab) په یو متر محاسبوي تسمه (Strip) کې د سیخانو شمېر په لاندې ډول پیداکوو:

No. of steel bars = $A_s/A_b = 240/78 = 3.08$ Nos/m ≈ 4.0 Nos

نو د پوښښ تختي (slab) په یو متر محاسبوي تسمه (Strip) کې د څلور سیخان ځای په ځای کېږي.

همدارنګه د سیخانو تر منځ مرکز تر مرکزه اعظمي فاصله د (ACI Code) غوښتنې له مخې د لاندېنیو پیداکیدونکو قیمتونو څخه تر ټولو کوچنی قیمت ټاکل کېږي:

$S = \frac{A_b \times 1000}{A_s} = \frac{78 \times 1000}{240} = 325$ mm C/C.

$S_{max} = 1000/4 = 250$mm

$S_{max} = 3h = 3 \times 120 = 360$mm

$S_{max} = 450$ mm

$S_{max} = 380\ (280/f_s) - 2.5\ Cc = 380 \times [280/(2/3) \times 420] - 2.5 \times 20$

$S_{max} = 330$ mm

$S_{max} = 300\ (280/f_s) = 300 \times [280/(2/3) \times 420] = 300$ mm

په پورتنیو فورمولونو کې: ($f_s = \frac{2}{3} f_y = \frac{2}{3} \times 420$) - د فولادي سیخانو کششي مقاومت دی او همدارنګه (Cc = 20mm) - په کانکریټو کې د سیخانو خالص پوښل یا محافظوي طبقه ده. د پورتنیو پنځو په لاس راغلو قیمتونو څخه کوچني قیمت (S_{max} = 250 mm) ټاکو.

په پایله کې د لومړۍ اتکاء لپاره (10mm dia. @ 250 mm C/C) ځاي په ځای کوو.

4 - د دویمې اتکاء ښي لوري لپاره:

$M_{UBR} = 5.896$ KN.m/m

$M_{nBR} = M_{UBR} /\phi = 5.896 / 0.90 = 6.551$ KN.m/m

$M_{nBR} = 6.551 \times 10^6$ N.mm/m.

$R_{nBR} = M_{nBR} / b\ d^2 = (6.551 \times 10^6) / [1000 \times (100)^2] = 0.655$ N/mm^2.

$R_{nA} = \frac{M_{UA}}{\phi b d^2} = \frac{5.896 \times 10^6}{0.9 \times 1000 \times 100^2} = 0.655$ N/mm^2= 0.655 MPa.

$$\rho = \frac{1}{m}\left(1 - \sqrt{1 - \frac{2mR_n}{f_y}}\right)$$

$$m = \frac{f_y}{0.85f'_c} = \frac{420}{0.85 \times 20} = 24.71$$

$$\rho = \frac{1}{m}\left(1 - \sqrt{1 - \frac{2mR_n}{f_y}}\right) = \frac{1}{24.71}\left(1 - \sqrt{1 - \frac{2 \times 24.71 \times 0.655}{420}}\right) = 0.0016.$$

$\rho = (0.85f'_c / f_y)\ .[1 - (1 - 2R_{nBR} / 0.85f'_c)^{1/2}]$

$\rho = (0.85 \times 20 / 420)\ .[1 - (1 - 2 \times 0.655 / 0.85 \times 20)^{1/2}]$

$\rho = 0.0405 \times 0.0393 = 0.0016.$

$A_{sBR} = \rho\ bd = 0.0016 \times 1000 \times 100 = 159$ mm^2/m.

$A_{min} = \rho_{min}\ bh = 0.002 \times 1000 \times 120 = 240$ mm^2/m.

داچې د سیخانو اضغري مساحت د سیخانو د واقعي مساحت څخه ډېر دی ، نو په لومړۍ وایه کې د سیخانو اصغري مساحت (A_{min} = 240 mm²/m) قبلوو.

په پورتني فورمول کې (A_b) د (10 mm) ملي متر قطر لرونکي سیخ د یو سیخ د عرضاني مقطعې مساحت دي ، چې د (A_b = 3.14 x (10)²/4 = 78 mm²) سره مساوي کېږي. همدارنګه د پوښښ تختي (slab) په یو متر محاسبوي تسمه (Strip) کې د سیخانو شمېر په لاندې ډول پیداکوو:

$$\text{No. of steel bars} = A_s/A_b = 240/78 = 3.08 \text{ Nos/m} \approx 4.0 \text{ Nos}$$

نو د پوښښ تختي (slab) په یو متر محاسبوي تسمه (Strip) کې د څلور سیخان ځای په ځای کېږي.

همدارنګه د سیخانو تر منځ مرکز تر مرکزه اعظمي فاصله د (ACI Code) غوښتني له مخې د لاندېنیو پیداکیدونکو قیمتونو څخه تر ټولو کوچنی قیمت ټاکل کېږي:

$$S = \frac{A_b \text{ x } 1000}{A_s} = \frac{78 \text{ x } 1000}{240} = 325 \text{ mm C/C.}$$

S_{max} = 1000/4 = 250mm

S_{max} = 3h = 3 x 120 = 360mm

S_{max} = 450 mm

S_{max} = 380 (280/f_s) – 2.5 Cc = 380 x [280/(2/3) x 420] – 2.5 x 20

S_{max} = 330 mm

S_{max} = 300 (280/f_s) = 300 x [280/(2/3) x 420] = 300 mm

په پورتنیو فورمولونو کې: ($f_s = \frac{2}{3} f_y = \frac{2}{3}$ x 420) - د فولادي سیخانو کششي مقاومت دی او (Cc = 20mm) - په کانکرېټو کې د سیخانو خالص پوښل یا محافظوي طبقه ده. د پورتنیو پنځو په لاس راغلو قیمتونو څخه کوچني قیمت (S_{max} = 250 mm) ټاکو.

په پایله کې د لومړۍ اتکاء لپاره (10mm dia. @ 250 mm C/C) ځاي په ځای کوو.

5 - د منځنیو وایو لپاره:

M_{U2} = 4.054KN.m/m

M_{n2} = M_{U2} /ϕ = 4.054/ 0.90 = 4.504 KN.m/m = 4.5 x 0410⁶ N.mm/m.

R_{n2} = M_{n2} / b d² = (4.504 x 10⁶) / [1000 x (100)²] = 0.450 N/mm².

$\rho = (0.85f'_c / f_y) .[1 - (1 – 2R_{n2} / 0.85f'_c)^{1/2}]$

$\rho = (0.85 x 20 / 420) .[1 - (1 – 2 x 0.450 / 0.85 x 20)^{1/2}]$

$\rho = 0.0405 x 0.027 = 0.0011.$

$A_{s2} = \rho bd = 0.0011 x 1000 x 100 = 109 mm^2/m.$

$A_{min} = \rho_{min} bh = 0.002 x 1000 x 120 = 240 mm^2/m.$

په پورتنۍ فورمول کې (A_b) د (10 mm) ملي متر قطر لرونکي سيخ د يو سيخ د عرضاني مقطعې مساحت دي ، چې د ($A_b = 3.14 x (10)^2/4 = 78 mm^2$) سره مساوي کېږي. همدا راز د پوښښ تختي (slab) په يو متر محاسبوي تسمه (Strip) کې د سيخانو شمېر په لاندې ډول پيدا کوو:

No. of steel bars = A_s/A_b = 240/78 = 3.08 Nos/m ≈ 4.0 Nos

نو د پوښښ تختي (slab) په يو متر محاسبوي تسمه (Strip) کې د څلور سيخان ځای په ځای کېږي.

همدا رنگه د سيخانو تر منځ مرکز تر مرکزه اعظمي فاصله د (ACI Code) غوښتنې له مخې د لاندېنيو پيدا کيدونکو قيمتونو څخه تر ټولو کوچنی قيمت ټاکل کېږي:

$$S = \frac{A_b \text{ x } 1000}{A_s} = \frac{78 \text{ x } 1000}{240} = 325 \text{ mm C/C.}$$

S_{max} = 1000/4 = 250mm

S_{max} = 3h = 3 x 120 = 360mm

S_{max} = 450 mm

S_{max} = 380 (280/f_s) – 2.5 Cc = 380 x [280/(2/3) x 420] – 2.5 x 20

S_{max} = 330 mm

S_{max} = 300 (280/f_s) = 300 x [280/(2/3) x 420] = 300 mm

په پورتنيو فورمولونو کې: ($f_s = \frac{2}{3} f_y = \frac{2}{3}$ x 420) - د فولادي سيخانو کششي مقاومت دی او (Cc = 20mm) - په کانکرېټو کې د سيخانو خالص پوښل يا محافظوي طبقه ده. د پورتنيو پنځو په لاس راغلو قيمتونو څخه کوچني قيمت (S_{max} = 250 mm) ټاکو.

په پايله کې د لومړۍ اتکاء لپاره (10mm dia. @ 250 mm C/C) ځاي په ځای کوو.

6 - د منځنیو اتکاوو لپاره :

M_{UC} = 5.896 KN.m/m

$M_{nC} = M_{UC} / \phi$ = 5.896 / 0.90 = 6.551 KN.m/m

M_{nC} = 6.551 x 10^6 N.mm/m.

$R_{nC} = M_{nC} / b\, d^2$ = (6.551 x 10^6) / [1000 x $(100)^2$] = 0.655 N/mm².

$\rho = (0.85f'_c / f_y) .[1 - (1 - 2R_{nC} / 0.85f'_c)^{1/2}]$

ρ = (0.85 x 20 / 420) .[1 - (1 – 2 x 0.655 / 0.85 x 20)$^{1/2}$]

ρ = 0.0405 x 0.0393 = 0.016.

$A_{sC} = \rho\, bd$ = 0.016 x 1000 x 100 = 1592 mm²/m.

$A_{min} = \rho_{min}\, bh$ = 0.002 x 1000 x 120 = 240 mm²/m.

په پورتنۍ فورمول کې (A_b) د (10 mm) ملي متر قطر لرونکي سیخ د یو سیخ د عرضاني مقطعې مساحت دی ، چې د (A_b = 3.14 x $(10)^2$/4 = 78 mm²) سره مساوي کیږي. همدارنګه د پوښښ تختې (slab) په یو متر محاسبوي تسمه (Strip) کې د سیخانو شمېر په لاندې ډول پیدا کوو :

No. of steel bars = A_s/A_b = 240/78 = 3.08 Nos/m ≈ 4.0 Nos

نو د پوښښ تختې (slab) په یو متر محاسبوي تسمه (Strip) کې د څلور سیخان ځای په ځای کیږي.

همدارازد سیخانو تر منځ مرکز تر مرکزه اعظمي فاصله د (ACI Code) غوښتنې له مخې د لاندینیو پیداکیدونکو قیمتونو څخه تر ټولو کوچنی قیمت ټاکل کیږي:

اوس ارزوو چې نومینالی عرضاني قوه او د کمېدونکې ضریب د ضرب حاصل د بار له امله نهایې ضریبي شوی عرضاني قوي سره څرنګه اړیکي لري.

که چېرې ($\phi V_n < V_u$) وي ، نو محاسبه صحیح ده او که چېرې وي ($\phi V_n \geq V_u$) نو په محاسبې د سره بیا باید کتنه وشي.

$$V_n = V_s + V_c \Rightarrow V_s = \frac{A_v f_y d}{S} = \frac{157 \times 420 \times 360}{180} = 131880 \text{ N} = 131.88 \text{ KN.}$$

$$V_c = 0.17\sqrt{f'_c}\, b_w\, d = 0.17 \times \sqrt{20} \times 200 \times 360 = 54738.94 \text{ N} = 54.80 \text{ KN .}$$

$$V_n = 131.88 + 54.80 = 131.935 \text{ KN} \Rightarrow \phi V_n = 0.75 \times 131.935 = 98.95 \text{ KN.}$$

$$V_n = 98.95 \text{ KN} > V_u = 97.271 \text{ KN.}$$

پس څرګنده شوه چې د په لومړی اتکاء کې د ګاډر د عرضاني مقطعې لپاره د بار له امله نهایې ضریبي شوی عرضاني قوي په وړاندې ، د عرضاني سیخانو یا ګڑدمکونو (Stirrups) محاسبه صحیح ده.

4- د درېمي اتکاء او منځنیو اتکاوو لپاره :

په درېمي اتکاء او منځنیو اتکاوو کې د نهایې ضریبي شوی بار له امله په لاس راغلي نهایې ضریبي شوي عرضاني قوه (V_{UBR} = 97.271 KN) ده.

څرنګه چې:

$$V_c = 0.17\sqrt{f'_c}\, b_w\, d = 0.17 \times \sqrt{20} \times 200 \times 360 = 54738.94 \text{ N} = 54.8 \text{KN}$$

نو:

$$\frac{\phi V_c}{2} = 0.75 \times 0.5 \times 54.8 = 20.55 \text{ KN} < V_U = 97.271 \text{ KN.}$$

اړینه ده چې عرضاني سیخان د محاسبې له مخې د ګاډر په عرضاني مقطعه کې ځای په ځای شي ، نو د دې لپاره لومړی د عرضاني سیخانو یا ګڑدمک (Stirrups) لپاره د سیخ

قطر ټاکو . د (ACI Code) د غوښتنې له مخې د ګاډر په عرضاني مقطعه کې د عرضاني سیخانو یا ګڼږمک (Stirrups) لپاره د (10 mm) ملي متر یا (3 #) قطر څخه کم قطر په پام کې نه نیول کېږي ، نو مونږ هم د عرضاني سیخانو یا ګڼږمک (Stirrups) لپاره (10 mm) ملي متر قطر لرونکې سیخ ټاکو چې په یوه د عرضاني سیخ یا ګڼږمک (Stirrups) کې دوه ولاړ سیخان د عرضاني قوو په وړاندې مقاومت کوي نو له دې امله یې مساحت مساوي کېږي په:

$$A_v = 2 \text{ x } \frac{\pi d^2}{4} = 2 \text{ x } \frac{3.14 \text{ x } (10)^2}{4} = 157 \text{ mm}^2.$$

هغه عرضاني قوه چې د یوه عرضاني سیخ یا ګڼږمک (Stirrups) په واسطه زغمل کېږي مساوي کېږي په:

$V_s = V_u – V_c = 97.271 – 54.8 = 42.471$ KN.

$0.33 \sqrt{f'_c}\, b_w\, d = 0.33 \text{ x } \sqrt{20} \text{ x } 200 \text{ x } 360 = 106257.94$ N = 106.26 KN.

$V_s = 42.471 \text{ KN} < 0.33 \sqrt{f'_c}\, b_w\, d = 106.26$ KN.

نو له دې امله د عرضاني سیخانو یا ګڼږمک (Stirrups) تر منځ فاصله (Space) د فعالي ارتفاع د نیمايي (d/2 = 360/2 = 180 mm) او یاهم (300 mm) ، خو په دې دواړو کې کوچنۍ فاصله (S = 180 mm) قبلېږي. همدارنګه د عرضاني سیخانو یا ګڼږمک (Stirrups) تر منځ فاصله (Space) د لاندېنې فورمول په واسطه هم پیدا کېږي :

$$S = \frac{A_v f_y d}{Vs} = \frac{157 \text{ x } 420 \text{ x } 360}{42471} = 559 \text{ mm.}$$

خو بیا هم د (ACI) د غوښتنې له مخې په دې قیمتونو کوچنی قیمت غوره کوو ، نو د عرضاني سیخانو یا ګڼږمک (Stirrups) تر منځ فاصله (S = 180 mm) قبلوو.

اوس ارزوو چې نومینالی عرضاني قوه او د کمېدونکې ضریب د ضرب حاصل د بار له امله نهایي ضریبي شوی عرضاني قوي سره څرنګه اړیکي لري.

که چېرې ($\phi V_n \geq V_u$) وي ، نو محاسبه صحیح ده او که چېرې وي ($\phi V_n < V_u$) نو په محاسبې د سره بیا باید کتنه وشي.

$$V_n = V_s + V_c \Rightarrow V_s = \frac{A_v f_y d}{S} = \frac{157 \text{ x } 420 \text{ x } 360}{180} = 131880 \text{ N} = 131.88 \text{ KN.}$$

$$V_c = 0.17\sqrt{f'_c}\, b_w\, d = 0.17 \text{ x } \sqrt{20} \text{ x } 200 \text{ x } 360 = 54738.94 \text{ N} = 54.80 \text{ KN .}$$

$V_n = 131.88 + 54.80 = 131.935$ KN $\Rightarrow \phi V_n = 0.75 \times 131.935 = 98.95$ KN.
$V_n = 98.95$ KN $> V_u = 97.271$ KN.

پس څرګنده شوه چې د په لومړۍ اتکاء کې د ګاډر د عرضاني مقطعې لپاره د بار له امله نهايي ضريبي شوی عرضاني قوي په وړاندې ، د عرضاني سيخانو يا ګڅدمکونو (Stirrups) محاسبه صحيح ده.

پورتنې په لاس راغلي عرضاني سيخان يا ګڅدمکونه (Stirrups) يوازې د اتکا ګانو څخه په وايه کې ، د وايې د محاسبوي اوږدوالي تر څلورمې برخې په اوږدوالي ($L_n/4$ = 5700/4 = 1425 mm) پورې ځای په ځای کېږي. خو د وايو په منځ کې يانې ($L_n/2$ = 5700/2 = 2850 mm) اوږدوالی کې ځای په ځای کېدونکې عرضاني سيخان يا ګڅدمکونه (Stirrups) په لاندې ډول محاسبه کېږي:

1- په لومړۍ وايه کې:

چپ لوري ته:

$V_{U1} = (V_{UA} \times 1.221)/2.646 = (97.271 \times 1.221)/2.646 = 44.89$ KN.

څرنګه چې:

$V_c = 0.17\sqrt{f'_c}\, b_w\, d = 0.17 \times \sqrt{20} \times 200 \times 360 = 54738.94$ N$= 54.80$ KN.

نو:

$\frac{\phi V_c}{2} = 0.75 \times 0.5 \times 54.8 = 20.55$ KN $< V_U = 44.89$ KN.

$A_v = 2 \times \frac{\pi d^2}{4} = 2 \times \frac{3.14 \times (10)^2}{4} = 157\ mm^2$.

هغه عرضاني قوه چې د يوه عرضاني سيخ يا ګڅدمک (Stirrups) په واسطه زغمل کېږي مساوي کېږي په:

$V_s = V_u - V_c = 44.89 - 54.8 = -9.91$ KN < 0

نو په دې حالت کې عرضاني سيخان يا ګڅدمکونه (Stirrups) يو له بل څخه د ملي مترو(300 mm) او يا (12 in) انچو په فاصله ځای په ځای کېږي. نو له دې امله د

عرضاني سيخانو يا ګژدمک (Stirrups) تر منځ فاصله (Space) د (300 mm) په پام کې نيول کېږي

اوس ارزوو چې نوميناله عرضاني قوه او د کمېدونکې ضريب د ضرب حاصل د بار له امله نهايي ضريبي شوی عرضاني قوي سره څرنګه اړيکي لري.

که چېرې ($\phi V_n \geq V_u$) وي ، نو محاسبه صحيح ده او که چېرې وي ($\phi V_n < V_u$) نو په محاسبې د سره بيا بايد کتنه وشي.

$V_n = V_s + V_c \Rightarrow V_s = \frac{A_v f_y d}{S} = \frac{157 \text{ x } 420 \text{ x } 360}{300} = 79128 \text{ N} = 79.13 \text{ KN}.$

$V_c = 0.17\sqrt{f'_c}\, b_w\, d = 0.17 \text{ x } \sqrt{20} \text{ x } 200 \text{ x } 360 = 54738.94 \text{ N} = 54.80 \text{ KN}.$

$V_n = 79.13 + 54.80 = 133.93 \text{ KN} \Rightarrow \phi V_n = 0.75 \text{ x } 2133.93 = 100.45 \text{ KN}.$

$V_n = 100.45 \text{ KN} > V_u = 44.89 \text{ KN}.$

پس څرګنده شوه چې د په لومړۍ اتکاء کې د ګاډر د عرضاني مقطعې لپاره د بار له امله نهايي ضريبي شوی عرضاني قوي په وړاندې ، د عرضاني سيخانو يا ګژدمکونو (Stirrups) محاسبه صحيح ده.

ښي لورې ته:

$V_{U2} = (V_{UBL} \text{ x } 1.629)/3.054 = (111.611 \text{ x } 1.629)/3.054 = 59.533 \text{ KN}.$

څرنګه چې:

$V_c = 0.17\sqrt{f'_c}\, b_w\, d = 0.17 \text{ x } \sqrt{20} \text{ x } 200 \text{ x } 360 = 54738.94 \text{ N} = 54.80 \text{ KN}.$

نو:

$$\frac{\phi V_c}{2} = 0.75 \text{ x } 0.5 \text{ x } 54.8 = 20.55 \text{ KN} < V_U = 59.533 \text{ KN}.$$

$$A_v = 2 \text{ x } \frac{\pi d^2}{4} = 2 \text{ x } \frac{3.14 \text{ x } (10)^2}{4} = 157 \text{ mm}^2.$$

هغه عرضاني قوه چې د يوه عرضاني سيخ يا ګژدمک (Stirrups) په واسطه زغمل کېږي مساوي کېږي په:

$$V_s = V_u - V_c = 59.533 - 54.8 = 4.733 \text{ KN}$$

نو په دې حالت کې عرضاني سيخان يا ګژدمکونه (Stirrups) يو له بل څخه د ملي مترو(300 mm) او يا (12 in) انچو په فاصله ځاي په ځای کېږي . نو له دې امله د

عرضاني سيخانو يا ګڑدمک (Stirrups) تر منځ فاصله (Space) د (300 mm) په پام کې نیول کېږي

اوس ارزوو چې نومینالی عرضاني قوه او د کمېدونکې ضریب د ضرب حاصل د بار له امله نهایې ضریبي شوی عرضاني قوې سره څرنګه اړیکي لري.

که چېرې ($\phi V_n \geq V_u$) وي ، نو محاسبه صحیح ده او که چېرې وي ($\phi V_n < V_u$) نو په محاسبې د سره بیا باید کتنه وشي.

$V_n = V_s + V_c \Rightarrow V_s = \frac{A_v f_y d}{S} = \frac{157 \text{ x } 420 \text{ x } 360}{300} = 79128 \text{ N} = 79.13 \text{ KN.}$

$V_c = 0.17\sqrt{f'_c}\, b_w\, d = 0.17 \text{ x } \sqrt{20} \text{ x } 200 \text{ x } 360 = 54738.94 \text{ N} = 54.80 \text{ KN .}$

$V_n = 79.13 + 54.80 = 133.93 \text{ KN} \Rightarrow \phi V_n = 0.75 \text{ x } 2133.93 = 100.45 \text{ KN.}$

$V_n = 100.45 \text{ KN} > V_u = 59.533 \text{ KN.}$

پس څرګنده شوه چې د په لومړۍ اتکاء کې د ګاډر د عرضاني مقطعې لپاره د بار له امله نهایې ضریبي شوی عرضاني قوې په وړاندې ، د عرضاني سیخانو یا ګڑدمکونو (Stirrups) محاسبه صحیح ده.

په دویمې او منځنیو وایو کې هم لکه د لومړۍ وایې د چپ لورې په شانته عرضاني سیخان یا ګڑدمکونه (Stirrups) یو له بل څخه د ملي مترو (300 mm) ځای په ځای کوو.



14 - شکل: د ګاډر د عرضاني قوو دياګرام.



15 - شکل: د ګاډر سیخبندي.



16 - شکل: د ګاډر سیخبندي عرضاني قطعې.

په ګاډرونو کې د ځای په ځای شویو سیخانو ځانګړتیاوې یا مشخصات په لاندېنې جدول کې ښایو:

4- جدول: په ګاډرونو کې د ځای په ځای شویو سیخانو ځانګړتیاوې یا مشخصات.

د سیخانو شمېره	د سیخانو شیما	د سیخانو قطر (d) (mm)	د سیخانو اوږدوالی (L) (mm)	د سیخانو شمېر (n)	د سیخانو اوږدوالی n x L (m)	د سیخانو قطر (d) (mm)	د سیخانو مجموعي اوږدوالی ΣL (m)	د سیخانو وزن په (kg) ديومتر	د سیخانو وزن په (kg) مجموعي
1	2	3	4	5	6	7	8	9	10
1		14	1985	54	107.19	10	336	0.617	208
2		12	5120	36	184.32	12	727	0.888	646
3		14	6120	72	440.64	14	3901	1.209	4715
4		12	4300	126	541.80	10 mm ⇒ 208 + 5% 208 = 208 + 11 = 219 kg. 12 mm ⇒ 646 + 5% 646 = 646 + 33 = 679 kg. 14 mm ⇒ 4715 + 5% 4715 = 4715 + 236 = = 4951 kg. Total Weight of steel bars = 219 +			
5		14	6000	252	1512.00				
6		14	3300	126	415.80				
7		14	3300	432	1425.60				
8		10	980	342	335.16				

3- د پایو محاسبه (Design of Columns)

پایې یا ستنې عمودي عناصر دي، چې د ګاډرونو او پوښښ تختو بارونه اخلي او په نهایت کې دابارونه تهدابونو ته لیږدوي او بیا د هغې په واسطه خاورو ته لېږدېږي. ځکه نو، محوري فشار په پایو یا ستنو کې دتشنجاتو بنسټیزحالت دی. د تشنجاتو له دې حالت له مخې پایې یا ستنې په ټيپيک ډول سره په اوږد (Long) یا نرۍ (Slender) حالتونو کې واقع کېږي، چې د دې لپاره یې لمش یا لچ (Buckling) ډېر مهم دی. نو له همدې کبله، د اوسپنیزکانکرېټي پایو یا ستنو د تحلیل، طرحې او محاسبې د ساده کولو لپاره په لاندېنیو درېو کټګوریو وېشل کېږي:

1-لنډې (Short) یا متراکمې (Compact) پایې یا ستنې چې د مرکزي محوري بار (بار د پایې یا ستنې دمحور په مرکز عمل کړی وي) لاندې واقع کېږي. د دې ډول پایو یا ستنو د طرحې اومحاسبې لپاره په د کوچني او عمومي لمش یا لچ (Buckling) اغېزه په تحلیل، طرحه او محاسبه کې په پام کې نه نیول کېږي.

2- لنډې (Short) یا متراکمې (Compact) پایې یا ستنې چې د متمرکز محوري قوو او د کږېدنې یا انحنایي مومنټ لاندې واقع کېږي. د دې ډول پایو یا ستنو د طرحې اومحاسبې لپاره د لومړۍ کټګورۍ پایو یا ستنو په شانته د لمش یا لچ (Buckling) اغېزه په تحلیل، طرحه او محاسبه کې په پام کې نه نیول کېږي.

3-نرۍ پایې یا ستنې (Slender columns)، چې د محاسبې او تحلیل ډېره برخه یې د لمش یا لچ (Buckling) اغېزه تشکیلوي چې په اوولسم فصل کې به دا ډول پایې یا ستنې تشریح او توضیح شي.

د پایو یا ستنو سیخندی د دوه ډوله سیخانو څخه ترکېب مومي: (1) طولاني یا په اوږدو کې د ځای په ځای کېدونکی سیخان (Longitudinal). (2) په لنډو یا په متقابل لوری ځای په ځای کېدونکی سیخان(Transverse).

طولاني يا په اوږدو کې ځای په ځای کېدونکی فولادي سیخان (Longitudinal Reinforcement) د پایو یا ستنو د محور سره موازي د لاندېنيو موخو لپاره ځای په ځای کېږي:

(a)- د محوري بارونو د زغملو لپاره د پایو یا ستنو د باروړلو د ظرفیت لوړل.

(b)- دممکنه تصادفی عن المرکزیت د پېښېدنې په حالت کې د کششي تشنجاتو په وړاندې مقاوم کېدل.

(c)- د پایو یا ستنو د هستې لپاره برید(د پایې یا ستنې د عرضي مقطعې دننۍ برخه) تیارېږي.

د لنډلوری یا متقابل سیخبندي کېدونکې فولادي سیخان د پایو یا ستنو د محور سره عمود یانژدې په متقاطع ډول په پایو یا ستنو کې ځای په ځای کېږي ، دا سیخان دارنګه تنظیمېږي چې طولاني یا په اوږدو کې ځای په ځای کېدونکی فولادي سیخان (Longitudinal Reinforcing bars) سره باید چنګک شي. د اوسپنیزکانکرېټي پایو یا ستنو د لنډلورې یا متقابل سیخبندي کېدونکې سیخان د جوړېدنې پر مهال د طولاني یا په اوږدو کې ځای په ځای کېدونکو سیخانو د تړلو یا غوټه کولو (Tie) لپاره کارېږي. سربېره پر دې ، د لنډلوری یا متقابل سیخبندي کېدونکې سیخان د طولاني یا په اوږدو کې ځای په ځای کېدونکو سیخانو د افقي کلکېدنې لپاره کارکوي،چې د محوري فشاري بار لاندې د لمش یا لچ (Buckling) څخه مخنیوي کوي. همدارنګه ، د پایو یا ستنو او محاسبې په اړوند د لنډلوری یا متقابل سیخبندي کېدونکې سیخان ،د پایې یا ستنې د هستې لپاره ،چې د پایې یا ستنې د فشاري بار او شکل بدلون د خواصو له مخې لوړېږي ،کېدی شي چې دپام وړ ترنې له مخې تیار شي. پایې یا ستنې د لنډلوری یا متقابل سیخبندي کېدونکو سیخانو د ډول پربنسټ په دوو کټګوریو وېشل کېږي:

1. ترلې پايې يا ستنې (Tied Columns): ترلې پايې يا ستنې هغه پايې يا ستنې دي، چې د (ACI 318)کود د لارښوونې له مخې طولاني يا په اوږدو کې ځاى په ځاى کېدونکو فولادي سيخانو ،ګرد چاپېرد يو لړ ځانګړو کمربندونو په شانته ترل شوي وي. دارنګه ترنه د پايو يا ستنو په دننه اوږدو کې په پام کې نيول کېږي. د دې تړونکو يا ګڼدمکونو(Ties) تر منځ فاصله (دګاونډيو تړونکو يا ګڼدمکونوترمنځ فاصله) د پايو په اوږدو په ثابت ډول وي ،خو بايد د کود د غوښتنو په واسطه ومنل شي. ترلې پايې يا ستنې عرضاني مقطعې په ټيپيک ډول سره مستطيلي يا مربعي شکل لري.

2. فنرډوله پايې يا ستنې (Spiral Columns): فنرډوله پايې يا ستنې هغه پايې يا ستنې دي چې د دايروي فنري سيخانو څخه ترکېب مومي ،چې د طولاني يا په اوږدو کې ځاى په ځاى کېدونکو فولادي سيخانو په ګردچاپير پيچل کېږي. فنرډوله سيخان د پايو يا ستنو د هستې (د پايې يا ستنې د دننۍ برخې) د محکمېدنې لپاره تيارېږي. د دې محکمېدنې په پايله کې دفشار لاندې پايې يا ستنې خواص په څرګنده توګه لوړېږي ،لکه څنګه چې په دې فصل کې مخکې پرې بحث وشو. دفنرډوله سيخانو قدم (Pitch) هغه فاصله ده ،چې د فنرډوله سيخانو د پايې يا ستنې د هستې څخه د تاووښت تر منځ واقع کېږي. د پايې يا ستنې هسته د پايې يا ستنې دننۍ برخه ده،چې د فنرډوله سيخانود بيروني سطحې په واسطه سره نښلي،کله چې د پايې يا ستنې قشر د پايې يا ستنې بيروني برخه وي ، چې د فنرډوله سيخانود بيرونۍ سطحې څخه اخوا هم هسته واقع کېږي. دفنر ډوله پايې يا ستنې (Spiral Columns) عرضاني مقطعه په عمومي توګه دايروي شکل لري.



17- **شکل:** د ترلو پايو يا ستنو شيماتيکه نما.



18- **شکل:** د فنري ډوله پايو يا ستنو شيماتيکه نما.

په دې لاربښوود کې یوازې لنډی (Short) یا متراکمی (Compact) پایې یا ستنې چې د متمرکز محوري قوو لاندې واقع کېږي (بار یوازې په متمرکز ډول د محور په امتداد واقع کېږي) تر مطالعې لاندې نیول کېږي.

د پایو یا ستنو محوري فشاري ظرفیت (Columns Axial Compression Capacity):

د (ACI 318) کود پربنسټ د پایې یا ستنې محوري فشاري ظرفیت د لاندېنې فورمول په واسطه محاسبه کېږي:

$$\phi P_n = \phi\ \alpha\ [0.85f'_c\ (A_g - A_{st}) + A_{st}f_y]$$

دلته:

ϕ- د متمرکز فشاري بار لاندې پایو یا ستنو لپاره د ظرفیت کمونکی ضریب دی ،چې د تړلې پایو یا ستنو لپاره ($\phi = 0.65$) او د فنري ډوله پایو یا ستنو لپاره ($\phi = 0.70$) نیول کېږي.

P_n- د پایو یا ستنو د محوري نومینالي فشاري قوي ظرفیت دی.

α - د اصغري عن المرکزیت د ظرفیت کموونکی ضریب دی ، ،چې د تړلې پایو یا ستنو لپاره ($\phi = 0.80$) او د فنري ډوله پایو یا ستنو لپاره ($\phi = 0.85$) نیول کېږي.

A_g- د پایې یا ستنې د ټولې عرضې مقطعې مساحت دی.

A_{st}- د پایې یا ستنې د طولاني یا په اوږد لوري د ځای په ځای کېدونکو فولادي سیخانو مساحت دی.

متقابل سیخان (ګڼډمکونه یا فنرونه) د کود د لاربښوونې او مقررې له مخې طرحه اومحاسبه کېږي ، د فشاري باربدنې لاندې طولاني سیخان دلمش یا لچ څخه ژغوري یا ساتي.

3.1- د پایو یا ستنو لپاره د (ACI)کود مقرري

(ACI Code Provisions for Columns)

(a) د پایو یا ستنو د سیخبندۍ نسبت (Column Reinforcement Ratio):

$$\rho_g = A_{st} / A_g$$

دلته:

ρ_g- د پایې یا ستنې د سیخبندۍ نسبت دی.

A_{st} - په پایه کې د طولاني یا په اوږدو کې ځای په ځای کېدونکو سیخانو مساحت دی.

A_g - د پایې یا ستنې د عرضاني مقطعې مجموعي مساحت دی.

د (ACI)کود د غوښتنو له مخې:

$$1\% \le \rho_g \le 8\%)$$

د (ACI)کود د هغه سمیو لپاره چې زلزلې کچه په کې ټیټه وي ، نو(ρ_g) د اندازه (5%) سلنې ته په کمېدنې د قناعت وړ ده.

په ټیپیک ډول سره محاسبه کوونکي انجنیران (ρ_g) د (2%) سلنې او (3%) سلنې تر منځ قبلوي . سر بېره پر دې ، د (ACI)کود د غوښتنو له مخې د طولاني فولادي سیخانو تر منځ خالصه فاصله باید چې د($1.5d_b$) څخه لږه نه شي (دلته d_b د طولاني سیخانو قطر دی)، همدارنګه (40 mm) یا (1.5 in) او یا (دلوي ډکوونکی اعظمي قطر 4/3 x) په پام کې نیول کېږي.

(b) د طولاني فولادي سیخانو اصغري شمېر

(Minimum Number of Longitudinal Steel Bars)

د (ACI)کود په او سپنیز کانکرېټی پایو یا ستنوکې د اصغري طولاني فولادي سیخانو شمې په لاندې ډول ځانګړی کړی دی:

5- جدول: د پايو د عرضاني مقطعې له مخې د سيخانو اصغري شمېر.

دپايې يا ستنې د عرضاني مقطعې شکل	د طولاني فولادي سيخانو اصغري شمېر
مثلثي	3
مستطيلي	4
دايروي	6

دتړلو پايو يا ستنو لپاره د کود مقرري (Code Provision for Tied Columns):

(a) د ګژدمکونو قطر او ترمنځ فاصله (Tie Diameter and Spacing):

د ګژدمکونو قطر د طولاني سيخانو د قطر پورې اړه لري ، لکه په لاندې جدول کې ښودل شوي دي:

6- جدول: د پايو د طولاني سيخانو د قطر له مخې د ګژدمکونو (Stirups) د سيخاونو د قطر ټاکل.

د طولاني فولادي سيخانو اصغري کچه او سايز	د ګژدمکونو د سيخانو کچه او سايز
≤ 30 mm يا ≤ # 10	# 3(10 mm)
≤ 35 mm يا11 # ≥	# 4 (12 mm)

سربېره پر دې ، د هغه پايو يا ستنو لپاره ،چې په هغې کې طولاني سيخان د بنډل په ډول ځای په ځای کېږي ، د هغې لپاره (12 mm) يا (#4) سيخانو د ګژدمکونو لپاره کارېږي.

د ګڼدمکونو(Ties) تر منځ فاصله (s) ، د (ACI)کود په مطابق باید دلاندېنۍ معادلې په مطابق په پام کې نیول کېږي:

S_1 = 16 x longitudinal bar diameter (د طولاني سیخ قطر)

S ≤ S_1 = 48 x tie bar diameter (د ګڼدمک سیخ قطر)

S_3 = least dimension of column cross-section (دپایې عرضي مقطعې کوچنۍ اندازه)

دپورتنیو (s_1, s_2) او (s_3) قیمتونو د محاسبې څخه وروسته ، د پایو یا ستنو د مناسب جوړښت لپاره د دوې څخه کوچنی قیمت غوره کېږي.

په دې صنفي کار کې د مرکزي بار شویو یا لنډو پایو محاسبه د محوري فشاري بار له امله سرته رسېږي ، چې محوري بار د لاندېنیو ځانګړتیاوو په پام کې نیولو سره محاسبه کېږي:

1. دمنځنیو پوښښونو له امله مجموعي بار چې د پوښښ تختو ، د اساسي او فرعي ګاډرونو ، د فرش د ایمي مړو بارونو او د مؤقتو یا ژوندی و بارونو د جمع کولو څخه په لاس راځی.
2. د پاسنې پوښښ یا بام له امله مجموعي بارونه چې د پوښښ تختو ، د اساسي او فرعي ګاډرونو ، د بام له پاسه عایقو موادو د ځای په ځای کولو د دایمي یا مړو بارونو او د واورې د مؤقت یا ژوندی بار چې د سیمې د اورښت له مخې ټاکل کېږي ، د جمع کولو څخه په لاس راځی.

د پایو لپاره تړلې (Tied) عرضاني مقطعه په پام کې نیول کېږي ، چې په پلان کې یې شکل مربعوي وي ، چې د پایې یا ستنې په هکله نور مالومات لکه د پوړونو شمېر او د پوړ ارتفاع د ورکړل شویو ارقامو له مخې په پام کې نیول کېږي.

د پایو د بار وړلو توان د محوري فشاري قوو دتصادفي عن المرکزیت (Accidental Eccentricity)د عمل لاندې محاسبه کېږي ،نو په دې حالت کې د پایې محاسبوي اوږدوالي د لاندېنې کمیت له مخې باید قبول شي:

$$L_{ef} = \mu H$$

په پورتني فورمول کې:

L_{ef} - د پايې محاسبوي اوږدوالی دی.

H - د ودانۍ د پوړ لوړوالی يا ارتفاع ده.

μ - ضريب دی ،چې د پيو د نښلېدنې او اتکاء له مخې ټاکل کېږي.

نو په دې صنفي کار کې ($\mu = 0.70$) قبلېږي او همدارنګه د پوړ ارتفاع يا لوړوالی ($H = 3.0$ m) دی ، نو محاسبوي اوږدوالی مساوي کېږي په:

$$L_{ef} = 0.70 \times 3 = 2.10 \text{ m}$$

3.2- د پايې له پاسه د بارونو محاسبه کول

(Load Calculation on Columns)

1- د پايې د خپل بار محاسبه: د څو پوړيزه ودانيو پايې چې د محوري فشاري بار لاندې واقع شوي وي ، عرضاني مقطعه يې له (300 x 300) mm څخه لږه نه نيول کېږي ، نو مونږ هم د پايې عرضاني مقطعې ابعاد (300 x 300) mm په پام کې نيسو او د يوي پايې خپل بار په لاندې ډول محاسبه کوو :

$$P_c = h_c \times b_c \times H \times \gamma = 0.30 \times 0.30 \times 3 \times 25 = 6.75 \text{ KN}$$

په پورتني فورمول کې:

$H = 3.0$m - د پايې ارتفاع يا لوړوالی دی.

$\gamma = 25$ KN/m^3 - د کانکرېټو حجمي وزن دی.

($h_c = 0.30$ m) او ($b_c = 0.30$ m) په ترتيب سره د پايې د عرضاني مقطعې ابعاد دي.

2- د پایې د بارې ساحې (Tributary area) له پاسه د منځنیو پوړونو د بارونو محاسبه کول:

مـــړه یا ثابت (دایمی) بارونه (Dead Loads):

د پایې د بارې ساحې (Tributary area of column) له مخې ټول هغه بارونه چې د پایې له پاسه واقع دي په ترتیب سره په لاندې ډول محاسبه کېږي:

A. د پوښښ د وزن له امله بار:

د پوښښ مړ بار (W_{DS} = 4.46 KN/m_2) د پوښښ تختې لپاره مخکې محاسبه شوی دی او د پایې دبارې ساحې (Tributary area) مساحت (A)مساوي کېږي په:

$A = 7.2 \times 6 = 43.2\ m^2$.

P_s = slab dead load (W_{DS}) x Tributary area of column (A)

$P_s = 4.46 \times 43.\ 2 = 192.672$ KN.



19- شکل: د پایې بارې ساحه (Column Tributary Area).

B. د اساسي ګاډر (Girder or Main beam) د وزن له امله بار:

P_g = Girder cross section dimensions x length of Girder x Unit weight of concrete

$P_g = (h_g - h_s) \times b_g \times L_g \times \gamma = 0.48 \times 0.30 \times 7.2 \times 25 = 25.92$ KN.

C. د فرعي ګاډر (Secondary beam) د وزن له امله بار:

P_b = Secondary beam cross section dimensions x length of beam x Unit weight of concrete

$P_b = (h_b - h_s) \times b_b \times (Lb - bg) \times n \times \gamma = 0.28 \times 0.20 \times (6 - 0.3) \times 3 \times 25$

$P_b = 23.94$ KN.

D. د اساسي ګاډر د پلستر د وزن له امله بار:

$P_{gp} = [(h_g - h_s) \times 2 + b_g] \times \delta \times L_g \times \gamma$

$P_{gp} = (0.48 \times 2 + 0.30) \times 0.02 \times 7.2 \times 18 = 3.27$ KN.

E. د فرعي ګاډر د پلستر د وزن له امله بار:

$P_{bp} = [(h_b - h_s) \times 2 + b_b] \times \delta \times L_g \times n \times \gamma$

$P_{bp} = (0.28 \times 2 + 0.20) \times 0.02 \times 3 \times 5.7 \times 18 = 4.68$ KN.

د منځني پوړ د وزن له امله د پایې له پاسه مجموعي بار مساوي کېږي په:

$P_{Dm} = P_s + P_g + P_b + P_{gp} + P_{bp}$

$P_{Dm} = 192.672 + 25.92 + 23.94 + 3.27 + 4.68 = 250.50$ KN.

مؤقت یا ژوندی بار (Live Load): په منځني پوړ کې د مؤقت یا ژوندی بار له امله د پایې له پاسه بار مساوي کېږي په:

P_{Lm} = Live load (W_L) x Tributary area of column (A)

$P_{Lm} = 5\ KN/m^2 \times 43.2\ m^2 = 216$ KN.

3- د پايې د بارې ساحې (Tributary area) له پاسه د پاسنې پوړ يا بام د بارونو محاسبه کول:

مړه يا ثابت (دايمی) بارونه (Dead Loads) : د (Tributary area of column) پايې د بارې ساحې له مخې ټول هغه بارونه چې د پايې له پاسه واقع دي په ترتيب سره په لاندې ډول محاسبه کېږي:

A. د پوښښ د وزن له امله بار:

د پوښښ مړ بار (W_{DS} = 4.46 KN/m_2) د پوښښ تختې لپاره مخکې محاسبه شوی دی او د پايې دبارې ساحې (Tributary area) مساحت (A) مساوي کېږي په:

$$A = 7.2 \times 6 = 43.2\ m^2.$$

P_s = [Thickness of slab x γ + thickness of plaster x γ + Isolations weight] x Tributary area of column (A)

P_s = [0.12 x 25 + 0.02 x 18 + 0.02 x 22 + 0.02 x 18] x 43. 2 = 179.712 KN.

B. د اساسې گاډر (Girder or Main beam) د وزن له امله بار:

P_g = Girder cross section dimensions x length of Girder x Unit weight of concrete

$P_g = (h_g - h_s) \times b_g \times L_g \times \gamma$ = 0.48 x 0.30 x 7.2 x 25 = 25.92 KN.

C. د فرعې گاډر (Secondary beam) د وزن له امله بار:

P_b = Secondary beam cross section dimensions x length of beam x Unit weight of concrete

$P_b = (h_b - h_s) \times b_b \times (Lb - bg) \times n \times \gamma$

P_b = 0.28 x 0.20 x (6 – 0.3) x 3 x 25 = 23.94 KN.

D. د اساسې گاډر د پلستر د وزن له امله بار:

$P_{gp} = [(h_g - h_s) \times b_g] \times 2 \times \delta \times L_g \times \gamma$

P_{gp} = (0.48 + 0.30) x 2 x 0.02 x 7.2 x 18 = 4.044 KN.

E.   د فرعي ګاډر د پلسترد وزن له امله بار:

$P_{bp} = [(h_b - h_s) \times b_b] \times 2 \times \delta \times L_g \times n \times \gamma$

$P_{bp} = (0.28 + 0.20) \times 2 \times 0.02 \times 3 \times 5.7 \times 18 = 5.91$ KN.

د بام د وزن له امله د پايې له پاسه مجموعي بار مساوي کېږي په:

$P_{Dr} = P_s + P_g + P_b + P_{gp} + P_{bp}$

$P_{Dr} = 179.712 + 25.92 + 23.94 + 4.044 + 5.91 = 239.53$ KN.

مؤقت يا ژوندی بار (Live Load): په بام کې مؤقت يا ژوندی بار د وارې بار له امله د پايې له پاسه بار مساوي کېږي په:

P_{Lr} = Live load (W_L) x Tributary area of column (A)

$P_{Lr} = 1\ KN/m^2 \times 43.2\ m^2 = 43.2$ KN.



20 – شکل: د بام د پوښښ ډيټايل.

داچې ودانۍ درې پوړه ده نو د هر پوړ پايې له پاسه بار په لاندې ډول پيدا کوو:

د درېم پوړ د پايې له پاسه بار مساوي کېږي په:

$P_3 = 1.2 \times (P_{Dr} + P_c) + 1.6 \times P_{Lr}$

$P_3 = 1.2 \times (239.53 + 6.75) + 1.6 \times 43.2 = 364.66$ KN.

د دویم پوړ د پایې له پاسه بار مساوي کېږي په:

$P_2 = P_3 + 1.2 \times (P_{Dm} + P_c) + 1.6 \times P_{Lm}$

$P_2 = 364.66 + 1.2 \times (252.50 + 6.75) + 1.6 \times 216$

$P_2 = 364.66 + 311.1 + 345.6 = 1021.36KN.$

د لومړي پوړ د پایې له پاسه بار مساوي کېږي په:

$P_1 = P_2 + 1.2 \times (P_{Dm} + P_c) + 1.6 \times P_{Lm}$

$P_1 = 1021.36 + 1.2 \times (252.50 + 6.75) + 1.6 \times 216$

$P_1 = 1021.36 + 311.1 + 345.6 = 1678.06$ KN.

3.3- د پایو لپاره د سیخانو محاسبه:

د دریم پوړ پایې لپاره عرضاني مقطعې ابعاد او د سیخانو مساحت په لاندې ډول محاسبه کوو:

$\phi P_n = \phi\, \alpha\, [0.85f'_c\, (A_g - A_{st}) + A_{st}f_y] \geq P_U$

$P_U = 364.66$ KN.

د پایې د عرضاني مقطعې د مساحت د پیداکولو لپاره ($A_{st} = 0.02A_g$) ، همدارنګه د (Tied Column) تړلو پایو لپاره (ϕ 0.65) او ($\alpha = 0.85$) او همدارنګه په پایو کې د کانکرېټو فشاري مقاومت ($f'_c = 20$ MPa) او د سیخانو فشاري مقاومت ($f_y = 420$ MPa) قبلوو.

$\phi P_n = 0.65 \times 0.85\, [0.85 \times 20\, (A_g - 0.02A_g) + 0.02A_g \times 420] \geq 364.66 \times 10^3.$

$0.5525 \times [(17 \times 0.98\, A_g) + 8.4\, A_g] \geq 364.66 \times 10^3.$

$0.5525 \times [25.06\, A_g] \geq 364.66 \times 10^3.$

$13.85\, A_g \geq 364.66 \times 10^3 \;\Rightarrow A_g \geq 364660 / 13.85 = 26329\ mm^2.$

$h_c = b_c = \sqrt{A_g} = \sqrt{26329} = 162$ mm.

داچې د پایې د عرضاني مقطعې بشپړ مساحت ($A_g = 26329\ mm^2$) په لاس راغی ، دا چې په پلان کې یې د عرضاني مقطعې شکل مربعي په پام کې نیول شوی دی ، نو له دې امله په ترتیب سره د پایې د عرضاني مقطعې ابعاد ($h_c = b_c = 162$ mm) په لاس راځي ، خو د ساختماني ستندرد له مخې د پایې د عرضاني مقطعې ابعاد له

ځکه لږ په پام کې نه نیول کېږي، نو د پایې لپاره د عرضاني ($h_c = b_c = 300$ mm)
مقطعې مجموعي مساحت ($A_g = 90000 \text{ mm}^2$) قبلوو.
اوس ددې له مخې د پایې په عرضاني مقطعه کې د سیخانو مساحت په لاندې ډول په لاس
راوړ:

$\phi P_n = 0.65 \text{ x } 0.85 [0.85 \text{ x } 20 (90000 - A_{st}) + A_{st} \text{ x } 420] \geq 364.66 \text{ x } 10^3.$

$0.5525 \text{ x}[17 \text{ x } (90000 - A_{st}) + A_{st} \text{ x } 420] \geq 364.66 \text{ x } 10^3.$

$0.5525 \text{ x } [1530000 - 17A_{st} + 420 A_{st}] \geq 364.66 \text{ x } 10^3.$

$0.5525 \text{ x } [1530000 + 403 A_{st}] \geq 364.66 \text{ x } 10^3.$

$[1530000 + 403 A_{st}] \geq 364.66 \text{ x } 10^3.$

$845325 + 222.66 A_{st} \geq 364660.$

$222.66 A_{st} \geq - 480.665.$

داچې د پایې د عرضاني مقطعې لپاره د سیخانومساحت (A_{st}) قیمت منفي په لاس
نو ($Ast = 0.02A_g$) په پام کې نیسو او د سیخانو مساحت په لاندې ډول په لاس راوړو:

$A_{st} = 0.02 A_g = 0.02 \text{ x } 90000 = 1800 \text{ mm}_2.$

که چېرې په پایې کې د ځای په ځای کېدونکو سیخانو قطر ($d = 18$ mm) په پام
کې ونیسو ، نو د یو سیخ د مقطعې د مساحت د پیداکولو څخه وروسته ، په پایه کې د
سیخانو شمېر په لاندې ډول په لاس راوړو:

$$A_b = \frac{\pi d^2}{4} = \frac{3.14 \text{ x } (18)^2}{4} = 254.34 \text{ mm}^2.$$

په پایه کې د سیخانو شمېر مساوي کېږي په:

$$\text{No. of Steel bars} = \frac{A_{SC}}{A_b} = \frac{1800}{254.34} = 7.08 \text{ Nos.} \approx 8\text{Nos} \Rightarrow$$

$A_s = 8 \text{ x } 254.34 = 2035 \text{ mm}^2.$

په پایله کې د ګاډر کې (8 N 18) سیخان ځای په ځای کوو.

په پایه کې د ځای په ځای کېدونکو سیخانو ، د سیخبندۍ نسبت
(Reinforcement ratio) باید د (ACI Code) له غوښتنې ډېره نه شي ، نو په لاندې ډول
یې په لاس راوړو:

$\rho_g = (A_{st} / A_g) \text{ x}100 = (2035/90000) \text{ x } 100 = 2.26\% > 2\%$ OK.

د ګڼدمکونو(Ties) لپاره د سيخانو قطر (10 mm) په پام کې نيولو سره ،تر منځ فاصله (s) يې ، په لاندې ډول په لاس راوړ:

S_1 = 16 x longitudinal bar diameter = 16 x 18 = 288 mm

S ≤ S_1 = 48 x tie bar diameter = 48 x 10 = 480 mm

S_3 = least dimension of column cross-section = 300 mm

د پورتنيو (s_1 = 288 mm, s_2= 480 mm) او (s_3= 300 mm) قيمتونو د محاسبې څخه وروسته ، د پايو يا ستنو د مناسب جوړښت لپاره د دوې څخه کوچنی قيمت (S = 288 mm) غوره کوو . د دې ځايه ويلی شو ، چې د دريم پوړ په پايه کې د ګڼدمکونو لپاره (10 mm @ 288 mm) په پام کې نيسو.



21 – شکل: د دريم پوړ د پايې د محاسبې له مخې په لاس راغلی مقطعه.

د دويم پوړ پايې لپاره عرضاني مقطعې ابعاد او د سيخانو مساحت په لاندې ډول محاسبه کوو:

$\phi P_n = \phi\ \alpha\ [0.85f'_c\ (A_g - A_{st}) + A_{st}f_y] \geq P_U$

P_U = 1021.3 KN.

د پايې د عرضاني مقطعې د مساحت د پيداکولو لپاره (Ast = 0.02Ag) ، همداراز د (Tied Column) تړلو پايو لپاره (0.65 ϕ) او (α = 0.85) او همدارنګه په

پایو کې د کانکرېټو فشاري مقاومت ($f'_c = 20$ MPa) او د سیخانو فشاري مقاومت ($f_y = 420$ MPa) قبلوو.

$\phi P_n = 0.65 \times 0.85 [0.85 \times 20 (A_g - 0.02A_g) + 0.02A_g \times 420] \geq 1021.3 \times 10^3$.
$0.5525 \times [(17 \times 0.98 A_g) + 8.4 A_g] \geq 1021.3 \times 10^3$.
$0.5525 \times [25.06 A_g] \geq 1021.3 \times 10^3$.
$13.85 A_g \geq 1021.3 \times 10^3 \Rightarrow A_g \geq 1021300 / 13.85 = 73740 \text{ mm}^2$.
$h_c = b_c = \sqrt{A_g} = \sqrt{73740} = 271$ mm.

داچې د پایې د عرضاني مقطعې بشپړ مساحت ($A_g = 73740 \text{ mm}^2$) په لاس راغی ، دا چې په پلان کې یې د عرضاني مقطعې شکل مربعي په پام کې نیول شوی دی ، نو له دې امله په ترتیب سره د پایې د عرضاني مقطعې ابعاد ($h_c = b_c = 271$ mm) په لاس راځي ، خو د ساختماني ستندرد له مخې د پایې د عرضاني مقطعې ابعاد له ($h_c = b_c = 300$ mm) څخه لږ په پام کې نه نیول کېږي، نو د پایې لپاره د عرضاني مقطعې مجموعي مساحت ($A_g = 90000 \text{ mm}^2$) قبلوو .

اوس د دې له مخې د پایې په عرضاني مقطعه کې د سیخانو مساحت په لاندې ډول په لاس راوړ:

$\phi P_n = 0.65 \times 0.85 [0.85 \times 20 (90000 - A_{st}) + A_{st} \times 420] \geq 1021.3 \times 10^3$.
$0.5525 \times [17 \times (90000 - A_{st}) + A_{st} \times 420] \geq 1021.3 \times 10^3$.
$0.5525 \times [1530000 - 17A_{st} + 420 A_{st}] \geq 1021.3 \times 10^3$.
$0.5525 \times [1530000 + 403 A_{st}] \geq 1021.3 \times 10^3$.
$[1530000 + 403 A_{st}] \geq 1021.3 \times 10^3$
$845325 + 222.66 A_{st} \geq 1021300$.
$222.66 A_{st} \geq 175975 \Rightarrow A_{st} = 790 \text{ mm}^2$.

داچې د پایې د عرضاني مقطعې لپاره د سیخانومساحت ($A_{st} = 790 \text{ mm}^2$) نو په پایه کې د سیخبندۍ نسبت مساوي کېږي په:

$\rho_g = (A_{st} / A_g) \times 100 = (790/90000) \times 100 = 0.88 < 2\%$

د (ACI Code) د غوښتنې له مخې په پایه کې باید د سیخبندۍ نسبت له (2%) سلنې څخه باید کوچنی نه شي ، نو له دې لپاره په پایه کې د سیخانو مساحت ($Ast = 0.02Ag$) په پام کې نیسو او د سیخانو مساحت په لاندې ډول په لاس راوړو :

$A_{st} = 0.02\ A_g = 0.02 \times 90000 = 1800\ mm_2.$

که چېرې په پايي کې د ځای په ځای کېدونکو سيخانو قطر (d = 18 mm) په پام کې ونيسو ، نو د يو سيخ د مقطعې د مساحت د پيداکولو څخه وروسته ، په پايه کې د سيخانو شمېر په لاندې ډول په لاس راوړو:

$$A_b = \frac{\pi d^2}{4} = \frac{3.14 \times (18)^2}{4} = 254.34\ mm^2.$$

په پايه کې د سيخانو شمېر مساوي کېږي په:

$$\text{No. of Steel bars} = \frac{A_{SC}}{A_b} = \frac{1800}{254.34} = 7.08\ \text{Nos.} \approx 8\text{Nos}$$

$$\Rightarrow A_s = 8 \times 254.34 = 2035\ mm^2.$$

په پايله کې د ګاډر کې (8 N 18) سيخان ځای په ځای کوو.

په پايه کې د ځای په ځای کېدونکو سيخانو ، د سيبندۍ نسبت (Reinforcement ratio) بايد د (ACI Code) له غوښتنې ډېره نه شي ، نو په لاندې ډول يې په لاس راوړو:

$\rho_g = (A_{st} / A_g) \times 100 = (2035/90000) \times 100 = 2.26\% > 2\%$ OK.

د ګڼدمکونو(Ties) لپاره د سيخانو قطر (10 mm) په پام کې نيولو سره ،تر منځ فاصله (s) يې ، په لاندې ډول په لاس راوړ:

$$S \leq \begin{cases} S_1 = 16 \times \text{longitudinal bar diameter} = 16 \times 18 = 288\ mm \\ S_1 = 48 \times \text{tie bar diameter} = 48 \times 10 = 480\ mm \\ S_3 = \text{least dimension of column cross-section} = 300\ mm \end{cases}$$

د پورتنيو ($s_1 = 288$ mm, $s_2 = 480$ mm) او ($s_3 = 300$ mm) قيمتونو د محاسبې څخه وروسته ، د پايو يا ستنو د مناسب جوړښت لپاره د دوې څخه کوچنی قيمت (S = 288 mm) غوره کوو . د دې ځايه ويلی شو چې د دويم بوړ په پايه کې د ګڼدمکونو لپاره (10 mm @ 288 mm) په پام کې نيسو .



22 – شکل: د دویم پوړ د پایې د محاسبې له مخې په لاس راغلی مقطعه.

د لومړي پوړ پایې لپاره عرضاني مقطعې ابعاد او د سیخانو مساحت په لاندې ډول محاسبه کوو:

$\phi P_n = \phi\ \alpha\ [0.85f'_c\ (A_g - A_{st}) + A_{st}f_y] \geq P_U$
$P_U = 1678.06$ KN.

د پایې د عرضاني مقطعې د مساحت د پیداکولو لپاره ($A_{st} = 0.02A_g$) ، همداراز د (Tied Column) تړلو پایو لــه پــاره ($\phi = 0.65$) او ($\alpha = 0.85$) او همدارنګه په پایو کې د کانکرېټو فشاري مقاومت ($f'_c = 20$ MPa) او د سیخانو فشاري مقاومت ($f_y = 420$ MPa) قبلوو.

$\phi P_n = 0.65 \times 0.85\ [0.85 \times 20\ (A_g - 0.02A_g) + 0.02A_g \times 420] \geq 1678.06 \times 10^3.$
$0.5525 \times [(17 \times 0.98\ A_g) + 8.4\ A_g] \geq 1678.06 \times 10^3.$
$0.5525 \times [25.06\ A_g] \geq 1678.06 \times 10^3.$
$13.85\ A_g \geq 1678.06 \times 10^3 \Rightarrow A_g \geq 1678060 / 13.85 = 121160\ mm^2.$
$h_c = b_c = \sqrt{A_g} = \sqrt{121160} = 348$ mm.

داچې د پایې د عرضاني مقطعې بشپړ مساحت ($A_g = 121160\ mm^2$) په لاس راغی، دا چې په پلان کې یې د عرضاني مقطعې شکل مربعي په پام کې نیول شوی دی، نو له دې امله په ترتیب سره د پایې د عرضاني مقطعې ابعاد ($h_c = b_c = 348$ mm) په لاس راځي، خــو د ساختماني ســتندرد له مخې د پایې د عرضاني مقطعې ابعاد پوره

او د پایــې لپاره د عــرضــاني مقطــعې مجـــموعي مساحت $(h_c = b_c = 350\ mm)$ $(A_g = 122500\ mm^2)$ قبلوو .

اوس ددې له مخې د پایې په عرضاني مقطعه کې د سیخانو مساحت په لاندې ډول په لاس راوړ:

$\phi P_n = 0.65 \times 0.85\ [0.85 \times 20\ (122500 - A_{st}) + A_{st} \times 420] \geq 1678.06 \times 10^3.$

$0.5525 \times [17 \times (122500 - A_{st}) + A_{st} \times 420] \geq 1678.06 \times 10^3.$

$0.5525 \times [2082500 - 17A_{st} + 420\ A_{st}] \geq 1678.06 \times 10^3.$

$0.5525 \times [2082500 + 403\ A_{st}] \geq 1678.06 \times 10^3.$

$[1150581 + 222.66\ A_{st}] \geq 1678.06 \times 10^3.$

$1150581 + 222.66\ A_{st} \geq 1678060.$

$222.66\ A_{st} \geq 527479 \Rightarrow A_{st} = 2369\ mm^2.$

داچې د پایې د عرضاني مقطعې لپاره د سیخانومساحت $(A_{st} = 2369\ mm^2)$ نو په پایه کې د سیخبندۍ نسبت مساوي کېږي په:

$\rho_g = (A_{st} / A_g) \times 100 = (2369/122500) \times 100 = 1.93 < 2\%$

د (ACI Code) د غوښتنې له مخې په پایه کې باید د سیخبندۍ نسبت له (2%) سلنې څخه باید کوچنی نه شي ، نو له دې لپاره په پایه کې د سیخانو مساحت (Ast = 0.02Ag) په پام کې نیسو او د سیخانو مساحت په لاندې ډول په لاس راوړو :

$A_{st} = 0.02\ A_g = 0.02 \times 122500 = 2450\ mm_2.$

که چېرې په پایې کې د ځای په ځای کېدونکو سیخانو قطر (d = 20 mm) په پام کې ونیسو ، نو د یو سیخ د مقطعې د مساحت د پیداکولو څخه وروسته ، په پایه کې د سیخانو شمېر په لاندې ډول په لاس راوړو :

$$A_b = \frac{\pi d^2}{4} = \frac{3.14 \times (20)^2}{4} = 314\ mm^2.$$

په پایه کې د سیخانو شمېر مساوي کېږي په:

$$\text{No. of Steel bars} = \frac{A_{SC}}{A_b} = \frac{2450}{314} = 7.8\ \text{Nos.} \approx 8\text{Nos}$$

$\Rightarrow As = 8 \times 314 = 2512\ mm^2.$

په پایله کې د ګاډر کې (8 N 20) سیخان ځای په ځای کوو .

په پایه کې د ځای په ځای کېدونکو سیخانو ، د سیبندۍ نسبت (Reinforcement ratio) باید د (ACI Code) له غوښتنې ډېره نه شي ، نو په لاندې ډول یې په لاس راوړو:

$\rho_g = (A_{st} / A_g) x100 = (2512/122500) x 100 = 2.05\% > 2 \%$ OK.

د ګڼدمکونو(Ties) لپاره د سیخانو قطر (10 mm) په پام کې نیولو سره ،تر منځ فاصله (s) یې ، په لاندې ډول په لاس راوړ:

$S_1 = 16$ x longitudinal bar diameter = 16 x 20 = 320 mm

$S \leq$ $S_1 = 48$ x tie bar diameter = 48 x 10 = 480 mm

S_3 = least dimension of column cross-section = 350 mm

د پورتنیو (s_1 = 320 mm, s_2= 480 mm) او (s_3= 350 mm) قیمتونو د محاسبې څخه وروسته ، د پایو یا ستنو د مناسب جوړښت لپاره د دوې څخه کوچنی قیمت (S = 320 mm) غوره کوو . د دې ځایه ویلی شو چې د لومړي پوړ په پایه کې د ګڼدمکونو لپاره (10 mm @ 320 mm) په پام کې نیسو .



23 – شکل: د لومړی پوړ د پایې د محاسبې له مخې په لاس راغلی مقطعه.



24 – شکل: د پايې سيخبندي.



25 – **شکل: د پايې عرضاني مقطعې** .

په پایو کې د ځای په ځای شویو سیخانو ځانګړتیاوې یا مشخصات په لاندې جدول کې ښایو:

7- جدول: په پایو کې د ځای په ځای شویو سیخانو ځانګړتیاوې یا مشخصات.

د سیخانو شمېره	د سیخانو شیما	د سیخانو قطر (d) (mm)	د سیخانو اوږدوالی (L) (mm)	د سیخانو شمېر (n)	د سیخانو اوږدوالی n x L (m)	د سیخانو قطر (d) (mm)	د سیخانو مجموعي اوږدوالی ΣL (m)	د سیخانو وزن په (kg)	
								دیومتر	مجموعي
1	2	3	4	5	6	7	8	9	10
1		18	3370	8	27	10	31	0.617	19.12
2		18	3600	8	29	18	56	1.998	112
3		20	4203	8	34	20	34	2.47	84
4		10	980	10	10	10 mm ⇒ 19.12 + 5% 19.2 = 19.2 + 0.96 = 21 kg. 18 mm ⇒ 112 + 5% 112 = 112 +6 = 118 kg. 20 mm ⇒ 84 + 5% 84 = 84 + 4.2 = 88.2 kg. Total Weight of steel bars = 21 + 118 + 88.2=			
5		10	980	10	10				
6		10	1080	10	11				

4- د تهداب محاسبه (Footing Design)

په صنفي کار کې تهداب په يوريخت (Monolitical) او مرکزي بار شوي په ډول محاسبه کېږي ، چې د محاسبې لپاره يې مالومات د ورکړل شويو ارقامو او همدارنګه عامل بار او د پايې عرضاني مقطعې اندازې د لومړي پوړ د پايې د محاسبې له مخې اخيستل کېږي.

د تهداب محاسبه د دوو عمده برخو څخه ترکيب مومي ، چې د تهداب د بادنې يا جسم محاسبه او بله يې د تهداب د محکميت محاسبه ده.

4.1- د تهداب د بدني يا جسم د ابعادو محاسبه کول

د تهداب د بدنې د محاسبې څخه موخه د تهداب د ابعادو پيداکول دي. د تهداب د پلان د ابعادو د محاسبه کولو لپاره د تهداب خپل بار او همدارنګه بارونه پرته له ډاډمنيتاله ضريبونو څخه په پام کې نيول کېږي.

د لومړي پوړ د پايې له امله تهداب ته لېږدېدونکې بار په لاندې ډول محاسبه کوو :

$DL = (P_{Dr} + P_c) + (P_{Dm} + P_c) + (P_{Dm} + P_c)$

$DL = (239.53 + 6.75) + 2 \times (252.50 + 6.75) = 764.78KN$

$LL = P_{Lr} + P_{Lm} + P_{Lm} = 43.2 + 2 \times 216 = 475.22KN.$

نو د لومړی پوړ پايې لاندې تهداب ته لېږدېدونکې ($DL = 764.78KN$) مړ يا دايمي بار اوهمادرنګه ($LL = 475.22\ KN$) مؤقت يا ژوندې بار لاندې ، چې د اساس د (Bearing Capacity of Soil) خاورې د زغم يا برداشت مجازي فشار يې ($qa = 0.32\ MPa$) دی. د تهداب ژوروالی (1.5m) متره او خاورې حجمی وزن ($16\ KN/m^3$) دی.

$$A = B \times L = \frac{DL+LL}{q_a} = \frac{(764780+475220)}{0.32} = 3875000\ mm^2 .$$

$$B = L = \sqrt{3875000} = 1969\ mm \approx 2000\ mm = 2.0\ m.$$

4.1.1 - د تهداب لاندې د خاورد زغم ازمايښت

تهداب او د تهداب له پاسه خاورو د وزنونو په پام کې نيولو سره ، د تهداب ارتفاع يا ژوروالی (0.60m) په پام کې نيول کېږي.

د تهداب وزن مساوي کېږي په:

Footing weight = 2 x 2 x 0.60 x 25 = 60 KN.

د تهداب له پاسه د خاورې وزن مساوي کېږي په:

Weight of soil on footing = 2 x 2 x 0.90 x 16 = 57.6 KN.

دلته ($16\ KN/m^3$) د خاورې حجمی وزن دی.

د خاورې د زغم يا برداشت فشار مساوي کېږي:

Soil bearing pressure = (764.78 + 475.22 + 60 + 57.6)/(2 x 2)
Soil bearing pressure = 339.4 KN/m^2 = 0.34 MPa.
Soil bearing pressure = 0.34 MPa > q_a = 0.32 MPa

د پورتنۍ محاسبې څخه څرګندېږي ،چې د خاورو زغم يا د برداشت توان څخه د تهداب د سطحې په واسطه د لېږديدونکې بار له فشار څخه لږ دي ، نو بايد چې د تهداب ابعاد ډېر شي ، نو له دې امله د تهداب لپاره ابعاد (L = B = 2.20m) قبلوو بيا محاسبه ته تر هغه مهاله پورې ادامه ورکوو ، تر څو د تهداب د سطحې په واسطه د لېږديدونکې بار له فشار څخه د خاورو زغم يا د برداشت توان ډېر شي.

د تهداب او د تهداب له پاسه خاورو د وزنونو په پام کې نيولو سره ، د تهداب ارتفاع يا ژوروالی (0.60m) په پام کې نيول کېږي.

د تهداب وزن مساوي کېږي په:

Footing weight = 2.2 x 2.2 x 0.60 x 25 = 72.60 KN.

د تهداب له پاسه د خاورې وزن مساوي کېږي په:

Weight of soil on footing = 2.2 x 2.2 x 0.90 x 16 = 69.70 KN.

دلته ($16\ KN/m^3$) د خاورې حجمی وزن دی.

د خاورې د زغم يا برداشت فشار مساوي کېږي:

Soil bearing pressure = (764.78 + 475.22 + 72.60 + 69.70)/(2.2 x 2.2)
Soil bearing pressure = 1382.3/4.84

Soil bearing pressure = 285.6 KN/m^2 = 0.29 MPa < q_a = 0.32 MPa ⇒ OK.



26 – **شکل: دپايي لاندې تهداب مقطعه .**

4.1.2- د تهداب د ارتفاع ازمايښت:

د تهداب د ساختمان د محاسبې لپاره په لومړي قدم کې بارونه ضريبي کوو، چې په لاندې ډول يې محاسبه سرته رسوو:

P_u = 1.2 x 764.78 +1.6 x 475.22 = 1678 KN.

⇒ $q_u = (P_u)/(B \times L) = (1678)/(2.2 \times 2.2) = 346.70$ KN/m^2

4.1.2.1- د دوه لوریز عرضاني قوو محاسبه (Punching Shear Design)

د پايې د عرضاني مقطعې ثخه ثلورو واړو لورو ته د فعالی ارتفاع د نيمايې (d/2) په فاصله دوه لوريزه عرضاني قوي (Two-Way Shear or Punching) لپاره بحراني مقطعه په پام کې نيول کيږي ، چې دوه لوريزه عرضاني قوه دوه لوريزه عرضاني قوه د لاندېنې فورمول په واسطه په لاس راوړو :

$V_u = Q_u = Pu - q_u \times [(\ell + d) \times (b + d)]$

$V_u \leq \phi V_n = \phi V_c$

څرګنده ده ، چې د لومړي پوړ د پايې ابعاد د ($\ell = b = 0.35$ m) سره مساوي دي.

داو.د لوری سيخانو فعاله ارتفاع (d_{long}) د لاندېنې فورمول په واسطه پيدا کيږي:

$D_{long} = h – 50mm – d_{b1}/2 = 600 – 50 - 16/2 = 542$ mm.

دلنډ لوری سيخانو فعاله ارتفاع (d_{short}) د لاندېنې فورمول په واسطه پيدا کيږي:

$d_{short} = h – 50mm – d_{b1} – d_{bs}/2 = 600 – 50 - 16 - 16/2 = 526$ mm.

په پورتنې فورمول کې:

$h = 600$ mm - د تهداب ارتفاع ده.

(50 mm) - محافظوي طبقه (Cover) دی.

$d_{b1} = 16$mm - د تهداب په اوږد لوري کې د ځای په ځای کېدونکو سيخانو قطر دی.

$d_{bs} = 16$mm - د تهداب په لنډ لوري کې د ځای په ځای کېدونکو سيخانو قطر دی.

$V_u = Q_u = 1678 - 346.70 \times [(0.35 + 0.526) \times (0.35 + 0.526)]$

$V_u = 1411.95$ KN. V_u

د دوه لوريزه عرضاني قوي په وړاندې داخلي عرضاني ،د لاندېنيو دريو قيمتونو ثخه چې کوم يو کوچني قيمت وي هماغه قبليږي ، چې فورمولونه يې په لاندې ډول دي:

$$\phi V_n = \phi V_c = \phi \frac{1}{6} \left(1 + \frac{2}{\beta_c}\right)\sqrt{f'_c}\, b_o d$$

$$\phi V_n = \phi V_c = \phi \frac{1}{3} \sqrt{f'_c}\, b_o d$$

$$\phi V_n = \phi \left(\frac{\alpha_s d}{b_0} + 2\right)\frac{1}{6} \sqrt{f'_c}\, b_o d$$

$\phi = 0.75$ - د عرضاني قوي کمېدونکي ضریب دی.

V_n- د پایې یا ستنې لاندې تهداب نومینالي مقاومه عرضاني قوه ده په (KN/m).

$\beta_C = \ell/b = 2/2 = 1.0$ - د پایې یا ستنې د عرضاني مقطعې د اوږدوالی لنډ لورو د نسبت دی.

